# مجله مهاجر

د افغانستان اسلامي امارت
د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت
مالي او اداري معینیت
د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

دمهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت، نشراتي ارګان پرلپسي۱۹ ګڼه اوړی ۱۴۰۲




دحکومت د اطلاعاتو او رسنیو په مرکز کی ملت ته د دولت د حساب ورکوني په پروګرام
کی د مالی او اداري مرستیال له لوری د مهاجرینو چارو وزارت د راپور وړاندې کول بهیر

بسم الله الرحمن الرحيم

# مجله مهاجر

**د امتیاز څښتن:**
د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت
**مسؤل مدیر:**
مفتي عبدالمطلب حقاني
**تحریري هیئات:**
مفتي عبدالمطلب حقاني
محمد یونس تنویر
محمد اشرف حنیفي
جمال ناصر نادري
**راپور ورکوونکي:**
احمد شکیب حبیبي
**ژباړه او ایډیټ:**
سید پشتون (پشتون)
**عکاس:**
نظام الله سبحانی
**گرافیک او ډیزاین:**
عبیدالله (بیدار)

## لیکلــــــــړ

| مخګڼه | سر لیکونه |
|---|---|
| ۱ | سرمقاله |
| ۲ | د وزارت د چارواکو مهم فعالیتونه |
| ۳۰ | په ولایتونو کې د خدماتو وړاندې کول |
| ۴۳ | د دې ګڼې د انځورونو البوم |
| ۴۵ | ورزشي خبرونه |

# سرمقاله

با احساسه او انسان دوسته شاعر داسې ویلي:

به بازوان توا نا و قوت سر دست
خطا ست پنجه مسکین نا توان بشکست
نترسد آن که بر ا فتادگان نبخشاید
که گر ز پای در آید کسش نگیرد دست

انسان یو ټولنیز مخلوق دی او خدای تعالی ورته د اشرف المخلوقات لقب ورکړی دی او پر دې سربېره یې انسان ته د ځمکې پرمخ د خلیفه خطاب کړی، چې دا د خدای له لورې د مهربانۍ او لورینې نښه ده، چې انسان یې د نورو مخلوقاتو په پرتله غوره مخلوق پیدا کړی او لوړ مقام یې ورکړی دی، خو دلته د ځمکې پرمخ د خدای د خلیفه موخه ټول انسانان نه دي، بلکې یوازې هغه کسان دي چې د هغوی چلند او کړنې په هغه ډول وي چې خدای غوښتل او غواړي یې، نه هغه څوک چې الله تعالی ورته د هېواد او سیمې په کچه مقام او وړتیا ورکړې. خو دوی ورته پام نه کوي. همدارنګه دوی د خوراک، څښاک، عیش او عشرت او د نورو انسانانو څخه د ناوړې استفادې په فکر کې دي او له دې څخه نا خبره دي، چې دوی له کومې موخې لپاره پیدا شوي او د خپلو ناتوانه او کمزورو انسانانو پر وړاندې کوم ډول انساني مسؤلیت او مکلفیت لري، سربېره پردې د دوی پروړاندې له ظلم او جبر څخه هم ډډه نه کوي، چې له بده مرغه دا ډول خلک د ځمکې پرمخ ډېر لیدل کېږي، چې اکثره یې په دولتي لوړو پوستونو کې دي او دا ډول منفي فکرونه چې دوی یې د خپلو انسانانو پروړاندې لري، د هېوادونو په کچه د لویو ستونزو لامل شوي او کېږي او د هغه موارد و له جملې نه چې د داسې خلکو نه احساس څرګندوي او د ډېرو انسانانو د درد او کړاو لامل شوي او کېږي د مهاجرینو سره په ځانګړي توګه له افغان مهاجرینو سره د دوی ناوړه چلند دی.

اوسمهال افغانستان یو له هغو هېوادونو څخه دی، چې ډېر مهاجر لري او د میلیونونو افغانانو د مهاجرت اصلي لامل داخلي ستونزې نه، بلکې د پردیو هېوادونو یرغلونه وو، چې په سر کې یې حیوان صفته انسانان لرل او لري او اوس په میلیونونو افغان مهاجرینو محدویتونه او سخت شرایط وضع کوي او له دې سربېره، چې له دوی څخه د یوې وسیلې په توګه استفاده کوي بلکې دوی په جبري توګه ستنېدو ته هم مجبوروي، چې د دوی دا کړنه د بشر حقونو او انسانیت خلاف عمل دی، چې د حیواناتو سره پرتله کیدای شي، نو ډېر کم به مو لیدلي وي، چې یو حیوان دې بل حیوان دې ته مجبور کړي، چې سمیه ورته پېښ دي، خو له بده مرغه دا ډول کړنه اوس مهال په انساني ټولنو کې تکرارېږي او ویلای شو چې دا ډول انسانان د اشرف مخلوقاتو له مرحلې نه ټیټې مرحلې یعنې حیوان صفته مرحلې ته راښکته شوي او دوی به، بې له شکه د خپلو عملونو پایلې وګوري.

تو کز محنت دیگران بی غمی
نشاید که نامت نهند آدمی

د وزارت د چارواکو مهم فعالیتونه

## د مهاجرینو چارو سرپرست وزیر په کابل کې د پاکستان له سفیر سره لیدنه وکړه

د مهاجرینو چاروسرپرست وزیرالحاج خلیل الرحمن حقاني، په کابل کې د پاکستان له سفیر عبیدالرحمن نظاماني سره د زمري په ۴ مه په خپل کاري دفتر کې لیدنه وکړه.

په دې لیدنه کې په پاکستان کې د مېشتو افغان حاجیانو، پاکستان هېواد ته د بیت الله شریف نه د راغلو افغان حاجیانو د بېرته تګ او د هغو افغانانو پر ستونزو چې د وړو جرمونو او یا د اسنادو د نه لرلو له امله د پاکستان په زندانونو کې بندیان دي خبرې وشوې او همدانګه محترم حقاني پاکستان هېواد ته د خپل راتلونکي سفر په اړه هم د ښاغلي نظاماني سره خبرې وکړې چې غواړي هغه هېواد ته لاړشي او د افغان مهاجرینو له کمپونو څخه لیدنه وکړي او دهغوی له استازو سره خبرې وکړي.

د مهاجرینو چارو سرپرست وزیر د پاکستان هېواد څخه د افغان مهاجرینو د کوربه توب له امله مننه وکړه او د یادو ستونزو حل او د هغو افغانانو د عاجلو خوشې کولو غوښتنه وکړه چې د کوچنیو جرمونو او یا د اسنادو د نه لرلو له امله نیول شوي دي.

د پاکستان سفیر ژمنه وکړه چې له بیت الله شریف څخه راستنېدونکو حاجیانو ته به ویزې ورکوي او افغان بندیان به آزادوي.



## مؤسسې باید خپله زیاته بودیجه په مستحقینو مصرف کړي نه په دفتر پورې اړوند مسایلو

دغه څرګندونې د مهاجرینو چارو سرپرست وزیر الحاج خلیل الرحمن حقاني د قیس ارغندیوال خیریه بنسټ له لوري د دولتي ادارو د استازو په ګډون د زمري په ۱۴مه په انټرکانټیننټال هوټل کې په جوړه شوې ناستې کې وکړې.

حقاني زیاته کړه، اړینه ده چې هغه څه چې بنسټونه یې له تمویلوونکو څخه راټولوي، مستحقینو ته په امانتداره او شفافه توګه ورسوي.




هغه زیاته کړه، د ځینو ادارو د دفترونو لګښتونه له هغو مرستو ډېر دي، چې پر خلکو وېشل کېږي.

حقاني وویل، که په سروې، وېش، لګښتونو او حساب ورکولو کې روڼتیا نه وي، پایلې به یې مثبتې نه وي.

د مهاجرینو چارو وزارت سرپرست زیاته کړه اسلامي امارت د هغو وګړو او خیریه مؤسسو هرکلی او ملاتړ کوي چې له افغانانو سره مرستې ته لیواله دي.

ښاغلي حقاني د قیس خیریه مؤسسې مسئولینو ته ډاډ ورکړ، چې اسلامي امارت په مرکز او ولایتونو کې د دوی لپاره د فعالیت زمینه برابروي او لازمه ده، چې مؤسسې د خپلو اړوندو ادارو سره په همغږۍ کار او فعالیت وکړي.

د قیس ارغندیوال خیریه بنسټ غواړي، د ښوونځیو په جوړولو او بزګرانو سره د حبوباتو د تخمونو د وېش په برخه کې مرسته وکړي



## د مهاجرینو چارو وزیر په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د سرمنشي د مرستیال له ځانګړي استازي سره لیدنه وکړه

د مهاجرینو چارو وزیر سرپرست الحاج خلیل الرحمن حقاني په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د سرمنشي د مرستیال له ځانګړي استازي او د بشري مرستو همغږه کوونکي ښاغلي دانیل اندریس او مل پلاوي سره د زمري په ۱۶مه په خپل کاري دفتر کې لیدنه وکړه.

په دې لیدنه کې د افغان مهاجرو په ستونزو، وضعیت، د ملګرو ملتونو د کډوالـــو اداري او اړوند و ادارو ترمنځ د همغږۍ رامنځته کولو او موجوده ستونزو پر حل لارو خبرې وشوې.

د مهاجرینو چارو وزیر د یاد سازمان له همکاریو څخه مننه وکړه ویې ویل، د یاد سازمان د همکاریو دوام به ستونزې راکمې کړي.

هغه وویل، زموږ او ستاسې موخه مستحقو او اړمنو ته د خدماتو وړاندې کول دي او هیله مند یو، چې نړیوال همکاران مو خپلې مرستې زیاتې کړي.

حقاني زیاته کړه په بېلابېلو هېوادونو کې په میلیونونو مهاجر لرو او له دې سربېره په داخل د هېواد کې سلګونه زره بېځایه شوي لرو، چې بشري مرستو ته اړتیالري او نړیوال بنسټونه دې په سروې او د مرستو په وېش کې هڅه وکړي تر څو مستحقو ته ورسي.

هغه په بشري مرستو کې په لاس وهنې انتقاد وکړ ویې ویل، اکثره بنسټونه په سلو کې ۲۰ سلنه مرستې خلکو ته وېشي او ۸۰ سلنه نورې حیف او میل کوي.

ښاغلي حقاني وویل، په ګاونډیو او اروپایي هېوادونو کې افغان مهاجر له ډېرو ستونزو سره مخ دي او هیله مو داده چې هغوی سره د قانون او اصولو مطابق رویه تر سره شي او موږ د ملاتړ او همکاریو د پراختیا لپاره دیو میکانیزم د رامنځته کولو غوښتونکي یو، تر څو وکولای شو د مرستو او د نړیوالو سازمانونو ډونرانو ته ځواب ویونکي اوسو.

هغه زیاته کړه څلور اړخیزه ناسته باید تر سره شي او د هغه مطابق د افغان مهاجرو د ستونزو د حل لپاره لازمې کړنې تر سره شي.

ښاغلي دانیل هم د مرستو د وېش په روڼتیا ټینګار وکړ ویې ویل، موږ هم محدودیتونو سره مخ یو او جدي هڅه کوو چې حل لاره پیدا کړو، ستاسې پیغام به نورو ته ورسو، د یادو مواردو په اړه به خبرې وکړو او په هر حالت کې ستاسې سره همکارۍ ته چمتو یو.

په پای کې د مهاجرینو چارو سرپرست وزیر زیاته کړه، د ویلو او اوریدو لاره باید خلاصه وي محدودیتونو د دواړو لوریو په زیان دي د نړیوالې ټولنې مو داغوښتنه ده، چې د خدماتو په وړاندې کولو او د بشري مرستو په وېش کې یو له بل سره ګډه همغږي او همکاري ولرو.

دواړو لوریو د همکاریو پردوام، روڼتیا رامنځته کولو او د خدماتو په وړاندې کولو ټینګار وکړ.

په دې لیدنه کې د ښاغلي دانیل اندریس مرستیال، د ملګرو ملتونو د کډوالو اداري ریس لیونارد زولو او د یادې اداري مرستیال او د راپور ورکولو برخې مسؤل هم شتون درلود.



## د مهاجرینو چارو سرپرست وزیر د پکتیا ولایت د مهاجرینو ریاست څخه لیدنه وکړه

د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو سرپرست وزیر الحاج خلیل الرحمن حقاني د پکتیا ولایت د مهاجرینو چارو ریاست څخه د زمري په ۲۲ مه لیدنه وکړه.

هغه د یادې اداري د بېلابېلو برخو څخه د لیدنې پرمهال د مرستو د وېش په روڼتیا او چټکتیا ټینګار وکړ او د ریاست ټولو کارکوونکوته یې سپارښتنه وکړه، چې مراجعینو سره دې د اســـــلامي شریعت مطابق نیکه رویه وکړي، خپل فعالیتونه او کړنې دې په شفافه او عادلانه توګه تر سره کړي.

هغه همدا راز د مهاجرینو چارو رئیس ته لارښوونه وکړه، چې ملي او نړیوالو مرستندویه بنسټونه دې د مهاجرینو چارو وزارت سره د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې راستنېدونکو، داخلي بېځایه شوو او اړمنو کورنیو سره بشري مرستې د مهاجرینو چارو ریاست تر څارنې لاندې په ګډې همکارۍ او همغږۍ ووېشي.

په پای کې د پکتیا ولایت د مهاجرینو چارو رئیس مفتي حبیب الله شهزاده د یاد ریاست د فعالیتونو په اړه معلومات وړاندې کړل.



## د مهاجرینو چارو سرپرست د ملګرو ملتونو د کډوالو ادارې له رئیس سره وکتل

د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت سرپرست وزیر الحاج خلیل الرحمن حقاني د افغانستان لپاره د کډوالو عالي کمشنرۍ له رئیس ښاغلي لیونارد زولو سره د زمري په ۲۳مه په خپل کاري دفتر کې وکتل.

په دغه ناسته کې دواړو ادارو په ګډو همکاریو، درې اړخیزه ناستو او ۲۰۲۳ م کال د (PPA) پروژو په اړه خبرې وشوې.

ښاغلي زولو د مهاجرینو چارو وزارت همکاري د خپلې ادارې لپاره مهمه وبلله او د وزارت د همغږۍ او همکاریو څخه یې د مننې ترڅنګ د خپلو ژمنو د عملي کولو ډاډ ورکړ.



د مهاجرینو چارو وزارت سرپرست وویل، د مهاجرینو وزارت او د ملګرو ملتونو د کډوالو ادارې سره د ګډ کار او ښه تعامل له امله مونږ ډېرې لاسته راوړنې لرو.

هغه زیاته کړه، مونږ لومړۍ باید ټولې مخکینۍ ستونزې حل او راتلونکي پروژې د ټاکل شوو اصولو او پرېکړو له مخې سر ته ورسوو.

مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمان راشد چې په ناسته کې یې شتون درلود تېرې څلور اړخیزه ناستې ته په اشارې وویل، په ناستو کې چې کومې ژمنې کېږي باید عملي جنبه ولري او پایلې یې ولس په سترګو ووینې.

## د وزارت د داخلي لارو د کانکریټ پرانیسته وشوه

د وزارت د داخلي لارو د کانکریټولو کار د مهاجرینو چارو د وزیر الحاج خلیل الرحمن حقاني، مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد، یو شمېر مرکزي رئیسانو او د قرارداد کوونکي شرکت د استازو په شتون کې د وږي په ۱۱مه پیل شو.

د لاسلیک شوي تړون له مخې د ۲میلیونه، ۴۰۷ زره ۷۰ افغانیو په لګښت د ۱۸۰ مترو په اوږد والي او ۶ مترو په پلنوالي د وزارت د داخلي لارو کانکریټ، چې شاو خوا یې فلزي کټارې، د برېښنا مزي او د اړتیا وړ ګروپونو لګول دي، د اکمل احمدزي د انجینرۍ، ساختماني، خدماتي او لوژستیکي شرکت له لورې ترسره کېږي.

د یاد شرکت د رئیس سردار ولي انتظار په خبره دغه پروژه به په ۴۵ ورځو کې بشپړه او ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

د دې پروژې په پلي کېدو سره به مامورینو او مراجعینو ته د تګ راتګ اسانتیاوې برابرې شي.



## د کابل ولایت له پاره د مهاجرینو چارو نوی رئیس د دغه ریاست منسوبینو ته معرفي شو

د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت په وړاندیز او د ریاست الوزراء د لوړ مقام د حکم پر اساس قاري احمد الله هاشمي د کابل ولایت لپاره د مهاجرینو چارو د نوي رئیس په توګه مقرر شوو.

نوموړی په هغه مراسمو کې چې د وږي په ۳۱ مه په همدې موخه په یاد ریاست کې ترسره شول د الحاج خلیل لرحمن حقاني له لوري د یاد ریا ست کارکوونکو ته ور وپېژندل شو.



ښاغلي حقاني د یاد ریاست د مخکیني رئیس قاري عبدالمتین رحیمزي کارونه وستایل نوموړي وویل، ښاغلي رحیمزي په سخت وخت کې د کابل ولایت د داخلي بېځایه شوو پروسه مدیریت او په چټکه توګه یې سر ته ورسوله، مونږ د نوموړي د نه ستړي کېدونکو هلوځلو قدرداني کوو.

ښاغلي حقاني نوي رئیس ته په چارو کې د بریالیتوب دعا وکړه او په کارونو کې یې ورته د اخلاص، چټکتیا او روڼتیا سپارښتنه وکړه.

نوموړي د کابل د مهاجرینو ریاست اهمیت ته په اشارې وویل، ټول کارونه باید له وزارت، ولایت مقام او ټولو اړوند اداراتو سره په همغږۍ ترسره شي.

ښاغلي احمد الله هاشمي وویل ، څرنګه چې مشرانو پرما باور کړی، زه هم ژمنه کوم چې دغه باور به ساتم او له همکارانو یې وغوښتل، چې په کارونو کې له شفافیت او روڼتیا کار واخلي.

## د مهاجرینو چارو سرپرست وزیر د دغه وزارت د پلان او پالیسۍ نوی رئیس معرفي کړ

د مهاجرینو چارو سرپرست وزیر الحاج خلیل الرحمن حقاني د مهاجرینو چاروزارت د پلان او پالیسۍ نوی ټاکل شوی رئیس محمود الحق احدي د تلې په ۱۹مه د دغه وزارت کار کوونکو ته ور وپېژنده.

په یادو مراسمو کې چې په همدې موخه د مرکزي رئیسانو او د پلان او پالیسۍ ریاست د کارکوونکو په ګډون ترسره شول، د مهاجرینو چارو وزیر د پلان او پالیسۍ نوي رئیس او نورو رئیسانو ته وینا وکړه او ویې ویل، چې د دې کار له پاره چمتوالی او د لنډ مهاله او اوږد مهاله پلانونو ترتیب او د هغوی پلي کېدل او څارنه باید په پوره اخلاص او دقت سره ترسره شي.

ښاغلي حقاني دغه راز د وزارت د بېلابېلو څانګو د کار کوونکو د وړتیا په لوړولو ټینګار وکړ او اړوندو رئیسانو ته یې لارښوونه وکړه، چې د کار کوونکو د وړتیا د لوړولو په موخه دې د پلان او دقیقو او مشخصو برنامو له مخې بېلابېل ښوونیز کورسونه پر لاره واچوي.

د مهاجرینو چارو وزارت سرپرست د پلان او پالیسۍ ریاست مهم ریاست وباله او ددې ریاست رئیس یې خپلو مسؤلیتونو ته متوجې کړ او هغه او کاري ټیم ته یې د خدای له دربار څخه د بریالیتوب دعا وکړه.

محمود الحق احدي د اسلامي امارت د مسؤلینو له اعتماد څخه د مننې په څرګندولو سره ژمنه وکړه، چې د اړونده کار کوونکو په همکارۍ به د کارونو په ترسره کولو کې هر اړخیزې هڅې کوي.



## د مهاجرینو چارو سرپرست وزیر د شینوارو قومي مشرانو سره ولیدل

د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت سرپرست وزیر الحاج خلیل الرحمن حقاني د ننګرهار ولایت د شینوارو قوم له مشرانو او مخورو سره د چنګاښ په ۲۱مه په خپل کاري دفتر کې لیدنه وکړه.

یادو مشرانو د شینوارو ستونزې او مشکلات له حقاني صیب سره شریک کړل، دوی وویل شینوارو قوم هر وخت د اسلامي امارت ملاتړ کړی او خپل د غه هوډ ته به ترپایه ادامه ورکوي. دوی همدا راز له ښاغلي حقاني مننه وکړه، چې هر وخت یې پرته له ځنډه د قومونو غوښتنو ته لبیک ویلی.

د مهاجرینو چارو سرپرست وزیر وویل، داسې نظام راغلی، چې هرڅوک هروخت خپل مشکلات تر مشرانو رسولی شي، دا د اتفاق او یووالي له پاره ترټولو غوره فرصت دی، زمونږ هڅې باید د یو قوم په کچه نه بلکې د ټولو قومونو لپاره وي.

ښاغلي حقاني د اشغال پرضد د ننګرهار د قومونو قربانۍ وستایلې او ډاډ یې ورکړ، چې د دوی ستونزې به له اړوندو ارګانونو سره شریکې کړي.



## د کډوالو عالي کمشنرۍ د اسیا او اقیانوسیه دفتر مشر د مهاجرینو چارو وزیر سره وکتل

د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو عالي کمشنرۍ د اسیا او اقیانوسیه سیمه ییز دفتر مشر ایندریکا راتوتي د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو له سرپرست وزیر سره د وږي په ۲۸مه د هغه په کاري دفتر کې ناسته وکړه

په دغه ناسته کې په نورو هېوادونو په ځانګړي ډول پاکستان او ایران کې د مهاجرینو او دننه په افغانستان کې د داخلي بې ځایه شوو پر ستونزو او مشکلاتو خبرې وشوې.

ښاغلي راتوتي په کارونو او دایمي حل لارو کې د مهاجرینو چارو وزارت همغږي او همکاري موثره وبلله او په دې برخه کې د همکاریو مننه وکړه، نوموړي په تېرو کړنو رڼا واچوله او زیاته یې کړه، نږدې وخت کې به پاکستان ته هم ولاړ شي او له پاکستاني چارواکو سره به د مهاجرینو د اسنادو تمدید او بې اسنادو مهاجرینو ته د اسنادو په ورکولو خبرې وکړي.

ښاغلي حقاني نوموړي ته د ښه راغلاست ترڅنګ وویل: ناستې او خبرې باید نتیجه لرونکې او ګټه یې ولسونه په سترګو ووینې، ښاغلي حقاني ټینګار وکړ، چې د ژمي له رارسېدو مخکې باید بشري مرستې اړمنو ته ورسول شي.

نوموړي د موسساتو په بې طرفۍ او اصولو او قوانینو ته په ژمنتیا ټینګار وکړ.



## د مهاجرینو چارو وزارت او همکارو مؤسسو ترمنځ د همغږیو ناسته وشوه

د مهاجرینو چارو وزارت او د ملي او نړیوالو همکارو بنسټونو د همغږۍ ناسته د دغه وزارت د مشرتابه، د یادو بنسټونو د استازو او یوشمېر مرکزي رئیسانو په ګډون د وزارت د ناستو په تالار کې د وږي په ۲۹ مه ترسره شوه.

په ناسته کې، د مهاجرینو چارو وزیر الحاج خلیل الرحمن حقاني وینا وکړه ویې ویل، افغان مهاجرین له ګڼو ستونزو سره لاس او ګریوان دي او لازمه ده چې له دوی سره په هر اړخیزه او ښه توګه همکاري وشي.

هغه زیاته کړه، زموږ موخه د دوی د ستونزو هوارول دي او کوربه هېوادونه باید له افغان کډوالو سره د نړیوالو قوانینو له مخې چلند وکړي.

نوموړي راستنېدونکو سره زور زیاتي ته په اشارې وویل، چې د ژمي په رارسېدو سره به د راستنېدونکو او بېځایه شوو ستونزې زیاتې شي او لازمه ده، چې بنسټونو او مرستندویه ادارې د ژمي د رارسېدو مخکې د خپلو همکاریو او د ژمنیو مرستو د وېش پلانونو چمتو او عملي کړي.

حقاني زیاته کړه، چې د ناستې د ترسره کېدو موخه د هوکړې، د لازمو همغږیو رامنځ ته کولو او د ستونزو حل دی لازمه ده، چې په راتلونکو میاشتو کې هم همداسې ناستو ته دوام ورکړو.

هغه له همکارو بنسټونو او مؤسسو څخه غوښتنه وکړه، چې بېړنۍ او بشري مرستې، چې په پلان کې یې لري باید له وزارت سره شریک کړي، ترڅو امکاناتو ته په کتو سره په راتلونکي کې ګامونه پورته شي.

وروسته د وزارت مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد په خپلو خبرو کې د ستونزو په یادولو سره له کوربه هېوادونو وغوښتل، چې د مهاجرینو د جبري راستنېدو څخه ډډه وکړي او له افغان مهاجرینو سره د نړیوالو قوانینو، مقرراتو او تړونونو مطابق چلند وکړي.

هغه له کډوالو هم وغوښتل، چې په خپله خوښه هېواد ته راستانه شي او په هېواد کې مناسبو شرایطو ته په پام سره د هېواد په پرمختګ کې ونډه واخلي.

د مرستو د همغږۍ رئیس شیخ عبدالرحمن رحماني هم خبرې وکړې او له بنسټونو او مؤسسو څخه یې غوښتنه وکړه، چې د لاسلیک شوو هوکړه لیکونو له مخې یو بل سره په همکارۍ او همغږۍ کار وکړي او د مرستو د کمیت او کیفیت په لوړولو کې هڅې وکړي.

همدارنګه په ناسته کې د وزارت د مرستو د جلب آمر مولوي احمد طالب ځدران هم شتون درلود او د مؤسسو سره د هوکړه لیکونو د ستونزو د حل په لارو چارو یې خبرې وکړې او له بنسټونو څخه یې غوښتنه وکړه، چې په هره میاشت کې دې دې ته ورته ناسته ترسره شي.



د ملګرو ملتونو د مرستو د همغږۍ دفتر په استازیتوب شمس خلیلي ژمنه وکړه، چې د مهاجرینو چارو وزارت سره به د قوانینو او مقرراتو له مخې خپلو همکاریو ته دوام ورکړي.

په پای کې د مؤسسو استازو د اجراتو د ښه والي په موخه خپل نظریات او ستونزې وړاندې کړې او ژمنه یې وکړه، چې د وزارت سره د ناستې جریان او غوښتنې به دخپلو ادارو له مسؤلینو سره شریکې کړي.

## د مهاجرینو چارو وزارت مرستې د میدان وردګو ولایت د جلریز ولسوالۍ سېلاب ځپلو کورنیو ته ووېشل شوې

د مهاجرینو چارو وزارت مالي او اداري مرستیال الحاج محمد ارسلاح خروټي د یو پلاوي په مشرۍ د میدان وردګو ولایت د جلریز ولسوالۍ د سېلاب ځپلو سیمو څخه د وړې په لومړۍ نېټه لیدنه وکړه.

پلاوي د میدان وردګو ولایت د والي بختیار محاذ سره یوځای د هغه سیمو څخه لیدنه وکړه، چې د سېلابونو له امله زیانمنې شوې وې او د سیمې اوسېدونکو سره د غمشریکۍ د څرګندولو ترڅنګ یې د هغه ولایت د یوشمېر ادارو سره په همغږۍ مصدومینوته د رسېدو په موخه ګډ ټیمونه جوړ کړل او همدارنګه یې د دولتي او یوشمېر همکارو بنسټونو سره په همغږۍ د بېځایه شوو لپاره موقتي کمپ جوړ او د مهاجرینو چارو وزارت مرستې یې په مستحقو کورنیو ووېشلې.

د میدان وردګو ولایت په جلریز، چک، سیدآباد، جغتو، دایمیرداد، جلګې ولسوالیو او مرکز ښاوخوا سیمو کې د تېرې شپې د راوتلو سېلابونو له امله ۲۵ تنه شهیدان، ۴۰ تنه لادرکه او ګڼ نور ټپیان شوي دي.

د ترلاسه شوو معلوماتو له مخې سېلابونو تر ټولو زیات تلفات د ټکانه، تیشه، رویان درې، زیارت درې، جای غني او د جلریز په لالي قلعه کې اړولي دي.

په یادو سیمو کې د مرګ ژوبلې سربېره ۳۰ کورونه بشپړ خراب شوي، ۸۰ په جزوي توګه ویجاړ شوي او دا احتمال هم شته چې د مرګ ژوبلې شمېر نور هم زیات شي.

د ښاغلي خروټي سره په دې سفر کې د مقام د دفتر رئیس قاري محمد اجمل ویاړ، د داخلي بېځایه شوو د دایمي حل لارو رئیس مولوي شمال خان مصلح، د وزارت حقوقي سلاکار مولوي محمود الحق احدي، د مرستو د همغږۍ ریاست سرپرست رئیس احمد طالب ځدران او د ولایتونو د همغږۍ آمرحاجي مامور ملتیا کوله.



## له موسسو سره د هوکړې له مخې به په میدان وردګو ولایت کې د سېلاب مصدومینو سره نورې مرستې هم وشي

دغه خبره د مهاجرینو چارو وزارت مالي او اداري مرستیال الحاج محمد ارسلاح خروټي د وزارت د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست خبریال ته د زمري په ۲ مه په یوې مرکې کې وکړه.

ښاغلي خروټي، چې تېره ورځ یې د یو پلاوي په مشرۍ د جلریز ولسوالۍ د سېلاب ځپلو سیمه څخه لیدنه وکړه وویل، چې د زیانونو کچه لوړه ده او په زیاترو سیمو کې د سېلابونو د راوتلو او ویجاړ شوي کورونو د ختهو اوخاورو د راټولېدو له امله، مواصلاتي لارې بندي شوي دي.

هغه زیاته کړه، د ژغورنې ډله سره له دې چې د روغنیاتو له کمښت سره مخ ده، خو د خپلو ماشینریو په واسطه فعالیت کوي او د مهاجرینو چارو وزارت د دوی د ستونزو د حل په موخه نن ۵ زره لېتره تېل د جلریز ولسوالۍ ته لېږلي او هڅې روانې دي، چې له مرستندویه ادارو سره په همغږۍ لازمې مرستې برابرې او مصدومینو ته یې ورسوي.



د ویلو ده، چې د تېرې یکشنبې شپې سېلابونو له امله د میدان وردګو ولایت په جلریز، چک، سیدآباد، جغتو، دایمیرداد، جلګې ولسوالۍ او مرکز شاوخوا سیمو کې ۲۵ تنه شهیدان شوي، ۴۰ تنه لادرکه او لسګونه نور ټپیان شوي دي.

د ترلاسه شوو معلوماتو له مخې سېلابونو تر ټولو زیات تلفات د ټکانه، تیشه، رویان درې، زیارت درې، جای غني او د جلریز په لالي قلعه کې اړولي دي.

په یادو سیمو کې د مرګ ژوبلې سربېره ۳۰ کورونه بشپړ خراب شوي، ۸۰ په جزوي توګه ویجاړ شوي او دا احتمال هم شته چې د مرګ ژوبلې شمېر نور هم زیات شي.

## د مهاجرینو چارو وزارت مرستیال د ترکیې هېواد له سفیر سره لیدنه وکړه

د مهاجرینو چارو وزارت مالي او اداري مرستیال الحاج محمد ارسلاح خروټي د ترکیې هېواد له سفیر ښاغلي جیهاد ارګینای سره د زمري په ۷ مه په خپل کار په دفتر کې لیدنه وکړه.

په دې لیدنه کې دواړو لوروترکیې ته د افغانانو د غیر قانوني سفر، هېواد ته د هغوی د ډیپورټ کېدو، د غیر قانوني مسافرت د بدیل موندلو او په دې برخه کې د افغانانو د ستونزو پر حل خبرې وکړې.

ښاغلي خروټي د یادو شوو ستونزو د حل، او د دواړو هېوادونو ترمنځ د ښو اړیکو د ټینګښت او دوام، د ترکیې او د افغانستان اسلامي امارت د اړوندو ادارو د مسؤلینو ترمنځ

دوزارت مرستیال زیاته کړه، چې د افغانانو ډیپورټ د دې ستونزې دایمي حل نه دی، ځکه چې په ورته وخت کې دافغانانو په ډیپورټ کولو سره یوشمېر نور د غیر قانوني مسافرت له لارې ترکیې ته داخلیږي، نو په کار ده چې په هر اړخیزه توګه پرې له سره غور وشي، ترڅو یادې ستونزې ته لاره هواره شي.

خروټي زیاته کړه، یوازې د ډیپورټ یا چارټر الوتکې په اړه خبرې به مثبتې پایلې و نه لري او که ترکیه د افغانانو دغیرقانوني سفرونو د ستونزې د هوارېدو غوښتونکې وي، باید په ګډو ناستوکې په قانوني ډول د کارګرانو د لېږلو په ګډون پر ټولو اړوندو مسایلو خبرې وکړي.

هغه زیاته کړه، اسلامي امارت د نور ادارو ترڅنګ دا موضوع د مهاجرینو چارو له وزارت سره ډېره تړلې ده او که چېرته د دغه وزارت اتشې د فعالیت لپاره په برخه کې د ترکیې له خوانه اقدام وشی، بې له شکه د پام وړ شمېر شته ستونزې به حل شي او لاهمغږې به رامنځته شي.

د ترکیې سفیر د خروټي د مطرح شوو نکاتو په تائیدولو سره ژمنه وکړه چې په نږدې راتلونکي کې به ترکیې ته د اسلامي امارت د اړوندو ادارو پلاوي ته د سفر زمینه برابره کړي.



## ملت ته د حکومت د حساب ورکونې په پروګرام کې د مهاجرینو چارو وزارت لاسته راوړنې تشریح شوې

د مهاجرینو چارو وزارت مالي مرستیال الحاج محمد ارسلاح خروټي د زمري په ۱۸ نېټه ملت ته د حکومت د حساب ورکونې په پروګرام کې د دغه وزارت فعالیتونه او لاسته راوړنې بیان کړې.

په دې پروګرام کې چې د حکومت د رسنیو د اطلاعاتو په مرکز کې د خبریالانو په ګډون جوړ شوی و، ارسلاح خروټي په بېلابېلو برخو کې د مهاجرینو چارو وزارت د کړنو په اړه معلومات ورکړل.




هغه وویل، چې په تېر یوه کال کې له ۴۶۰ زره راستنېدونکو او بې ځایه شویو کورنیو سره مرستې شوې دي، څه باندې ۳ زره تنه بندیان له پاکستان او له زرو څخه زیات له ایران څخه لېږدول شوي دي، زر تنه کډوال حج ته لېږدول شوي او ۱۶۰زره بېځایه شوي کسان خپلو اصلي سیمو ته لېږدول شوي دي او۱۹ زرو کسانو ته د کار زمینه برابره شوې ده.

خروټي زیاته کړه، د مهاجرینو ۴۸ ښارګوټي له تخنیکي پلوه ارزول شوي، د راستنېدونکو او بې ځایه شویو له پاره د خدمتونو د وړاندې کولو په موخه له مؤسسو سره ۳۳۱ هوکړه لیکونه لاسلیک شوي، د راستنېدونکو د بیا یوځای کېدو ۳۴ کمېټې فعالې شوې او د اکثرو دویمي واحدونو فعالیتونه د وزیر او مرستیالانو له خوا ارزول شوي دي.

هغه زیاته کړه، د کډوالۍ د قانون بیا کتنه، د ځمکو د وېش قانون نهایي کول، د کارکوونکو د ظرفیت لوړولو په موخه د ستراتیژیک پلان ترتیبول، د کمپیوټر، انګلیسي او مدیریت په

برخو کې د ۸۶۴ کارکوونکو روزل او همدا راز د ۲۷ دویمي واحدونو د کړنو او د ۱۷ همکارو مؤسسو پروژې هم تېر کال تفتیش شوې دي.

د مهاجرینو چارو مرستیال د دغه وزارت راتلونکي پلانونه، د مرستو د جلبولو په خاطر له مرستندویو ډونرانو، سفارتونو، ملي او نړیوالو مؤسسو سره د همغږۍ ناستو نیول، د ستراتېژۍ تصویب او نهایي کول او د عمل پلان ترتیبول، د بې ځایه شویو، راستنېدونکو ټولنې، او مسلکي کادرونو د راستنېدو د پالیسیو بیاکتنه، د مهاجرینو په چارو کې د اسانتیاوو د برابرولو لپاره د دوه اړخیزو، درې اړخیزو او څلور اړخیزو غونډو ترسره کول، په کوربه هېوادونو کې د مهاجرینو لپاره د اسنادو د چمتو کولو او نوي کولو زمینه برابرول، مهاجرینو او پناه غوښتونکو ته چې بېرته راستنېدو ته لیواله دي د خپلې خوښې راستنېدو زمینه برابرول، په بهر کې د افغان مسلکي کادرونو تثبیت، پېژندنه او همغږي، د افغان مسلکي کسانو د راستنېدو لپاره د زمینې برابرولو لپاره همغږي، د راستنېدونکو او بې ځایه شویو قانوني غوښتنو ته رسېدنه، د داخلي بې ځایه شویو کورنیو سروې، پېژندنه او تثبیت، د بې ځایه شویو او راستنېدونکو وضعیت ته رسېدنه او د هغوی مېشتېدنه، د مهاجرینو په ښارګوټو کې د بنسټیزو خدماتو چمتو کول، د وزارت د کارکوونکو د کاري ظرفیت او تخصص د کچې لوړول، د ډیټابیس پراختیا او سیستم کول، د دعوت او ارشاد د اهدافو، پروګرامونو او پالیسیو د تطبیق مدیریت، تنظیم، کنټرول او څارنه.



## دمهاجرینو چارو وزارت مسلکي مرستیال د فاریاب ولایت د چارواکو سره لیدنه وکړه

دمهاجرینو چارو وزارت مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد د فاریاب ولایت له والي مولوي شعیب رسالت سره د زمري په ۷ مه لیدنه وکړه.

په دې لیدنه کې په دغه ولایت کې د راستنېدونکو او بېځایه شوو پرستونزو او دوی ته د بشري مرستو پر وېش خبرې وشوې.

مسلکي مرستیال د مرستندویه بنسټونو د فعالیتونو په اړه وویل، مؤسسې د مهاجرینو چارو وزارت سره د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې کولای شي چې په مرکز او ولایتونو کې فعالیتونه ترسره کړي او بیدون د هوکړې د فعالیتونو اجازه نه لري او د ولایت مسؤلین باید د مؤسسو سره په ناستو کې دا موضوع جدي مطرح کړي.

راشد زیاته کړه، د مهاجرینو چارو وزارت په فاریاب ولایت کې د ظهیرالدین محمد بابر او رسالت په نومونو د مهاجرینو لپاره دوه ځانګړي ښارګوټي لري او موږ د دغه ولایت له چارواکو او مسوولینو څخه غوښتنه کوو، چې د یادو ښارګوټو ځمکې چې د غاصبینو له خوا غصب شوې دي بېرته واخلي او غاصبین عدلي او قضایي ادارو ته ور وپېژني.

د فاریاب والي په دغه ولایت کې د مهاجرینو چارو وزارت د پلانونو او تر سره شوو کړنو ستاینه وکړه په دغه ولایت کې یې د وزارت د پلانونو د پلي کولو په برخه کې د همکارۍ ژمنه وکړه او ډاډ یې ورکړ چې یاد ښارګوټي به د غاصبینو له منګولو خلاصوي.



په دغه لیدنه کې مرستیال والي مولوي ارشاد او د استخباراتو رئیس مولوي نعمت الله نوراني هم شتون درلود.

د ویلو ده، چې د وزارت مسلکي مرستیال د یوپلاوي په مشرۍ د ولایتي ریاستونو د کړنو د ارزونې او د بېځایه شوو او راستنېدونکو د وضعیت د څېړلو موخه د هېواد یوشمېر شمالي ولایتونو ته په سفر تللی.



## مسلکي مرستیال د یوپلاوي په مشرۍ د فاریاب ولایت د مهاجرینو ریاست څخه لیدنه وکړه

د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد د یوپلاوي په مشرۍ د زمري په ۷مه د فاریاب ولایت د مهاجرینو ریاست څخه لیدنه وکړه او د دغه ریاست شته ستونزې او ننګونې یې برسي کړې.

ښاغلي راشد هغه ولایت د مهاجرینو چارو ریاست د اجرااتو د ارزونې په لړکې وویل موږ د مرستندویه بنسټونو سره په ګډې همغږۍ او همکارۍ هڅه کوو، چې په دغه ولایت کې راستنېدونکو، داخلي بېځایه شوو او اړمنو کورنیو سره لاژمې بشري مرستې تر سره کړو.

هغه د مهاجرینو چارو رئیس ته لار ښوونه وکړه، چې د راستنېدونکو، داخلي بېځایه شوو او اړمنو کورنیو په سروې کې دې له دقت او شفافیت څخه کار واخلي او د مرستندویه بنسټونو مرستې دې د مهاجرینو چارو ریاست سره په همغږۍ ووېشل شي.

نو موړي یو شمېر مشرانو، سپین ږیرو او د بېځایه شوو استازو ته ډاډ ورکړ ویې ویل، په دغه ولایت کې به راستنېدونکو، بېځایه شو او اړمنو کورنیو ته لاډېر خدمات وړاندې کړي.

وروسته د فاریاب ولایت د مهاجرینو چارو رئیس مولوي سیف الدین جهادي د یاد ریاست د فعالیتونو او ترسره شوو کړنو په اړه معلومات ورکړل.

د یاد سفر موخه د مهاجرینو چارو ریاست، د مهاجرینو د ښارګوټیو او د بېځایه شوو د سیمو څخه لیدنه او په دغه ولایت کې د چارواکو او نړیوالو بنسټونو له مسؤلینو سره د راستنېدونکو، داخلي بېځایه شوو او اړمنو کورنیو د شته ستونزو او ننګونو په اړه خبرې کول وو.



## د مهاجرینو چارو وزارت پلاوي د جوزجان ولایت د مهاجرینو ریاست چارې وارزولې

د مهاجرینو چارو وزارت د مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد په مشرۍ ددغه وزارت پلاوي د زمري په ۱۲مه د جوزجان ولایت د مهاجرینو ریاست چارې وارزولې.

د جوزجان ولایت د مهاجرینو چارو رئیس مولوي امان الله طلحه د یاد ریاست د ترسره شوو کړنو او فعالیتونو په اړه د وزارت پلاوي ته معلومات ورکړل او د وزارت څخه یې د یو شمېر ستونزو د حل غوښتنه وکړه.

وروسته پلاوي د یاد ریاست چارې وارزولې او د چارو د لا ښه والي په موخه یې ورته لاژمې سپارښتنې وکړې.

### مسلکي مرستیال د جوزجان مرستیال والي سره لیدنه وکړه

د مهاجرینو چارو وزارت مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد د جوزجان ولایت مرستیال والي مولوي نورالدین عمیر سره د زمري په ۱۲مه لیدنه وکړه.

په دغه لیدنه کې، راستنېدونکو، داخلي بېځایه شوو او اړمنو ته یې د سروې، بشري مرستو وېش، او دخلکو اقتصادي ستونزو په هکله خبرې و شوې.

مولوي راشد وویل چې د بنسټیزو پروژو پلي کول باید د اسلامي امارت د تګلارې سره سم وي، ترڅو مستحق خلک ترې ګټه پورته کړي.

د جوزجـــــان ولایت مرستیال والي د مهاجرینو چارو وزارت د پلاوي څخه مننه وکړه، چې په دغه ولایت کې، راستنېدونکو، داخلي بېځایه شوو او اړمنو ستونزو ته یې پامـــلرنه وکړه.

## د مهاجرینو چارو وزارت پلاوي د جوزجان ولایت د مهاجرینو ښــــارګوټو څخه لیـــــــدنه وکړه

د مـــــهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت پلاوي جــــوزجان ولایت ته د خپل سفر په ترڅ کې د درزآب اوقوش تپې ولسوالۍ او د نورآبـــاد د مهاجرینو ښارګوټو څخه د زمري په ۱۳مه لیدنه وکړه.

یاد پلاوي وویل، د مهاجرینو چارو وزارت هوډ لري، چې د هغو مهاجرینو د اوسېدو لپاره، چې بېرته خپل هېواد ته راستانه شوي دي داستوګنې او کارموندنې زمینه برابره کړي.

د دغو ښارګوټو څخه د لیدنو موخه په ښارګوټوکې د اوسېدونکو د وضعیت څېړنه او د دوی ستونزو ته لاسرسی و.

د ښارګوټو څخه د لېدنې پرمهال ددغه ښارګوټو اوسېدونکو په ښارګوټو کې د یوشمېرشته ستونزو یادونه وکړه او په دې برخه کې یې د مهاجرینو چارو وزارت څخه د پاملرنې غوښتنه وکړه.

د وزارت پلاوي د سیمې د اوسېدونکو ستونزې، نظریات او وړاندیزونه واورېدل او په دې برخه کې یې د مهاجرینو چارو وزارت د هڅو یادونه وکړه ویې ویل، چې د جوزجان ولایت د مهاجرینو ښارګوټو ستونزې د وزارت د اړوندو ادارو سره په ګډه څېړي او د همکارو مرستندویه بنسټونو سره یوځای یې د حل په موخه کړنې ترسره کوي.

د ویلو ده، چې په جوزجان ولایت کې د مهاجرینو لپاره دوه ښارګوټي ځانګړي شوي، چې یو یې نورآباد د مهاجرینو ښارګوټی دی، چې د مرکز څخه ۴۷ کیلومتره لرې په ۱۶۰۵ جریبه ځمکه کې جوړ شوی، تفصیلي پلان لري،خط اندازي یې شوې او یو شمېر فعالیتونه لکه د اوبو ژورو او نیمه ژورو څاګانو باسل، د سرک جغل اچول، د ښوونځي، روغتیایي مرکز،



مسجد ، د ماشومانو لپاره د لوبو میدان، د اوبو رسونې د شبکې او د غالۍ اوبدولو د پروسس مرکز جوړول دي، چې پکې تر سره شوي او اوسمهال له ۵۰۰ زیاتې کورنۍ پکې ژوند کوي. اوبل ښار ګوټی یې د درزاب او قـــــوش تپې ولسوالۍ د مهاجرینو ښار ګوټی دی، چې د مرکز څخه ۱۷ کیلومتره لرې په ۲۰۰۰ جریبه ځمکه کې جوړ شوی، تفصیلي او تیپیک پلان نه لري، نمرې یې مخکې خط اندازي شوې وې چې اوس له منځه تللې او هېڅ ډول فعالیتونه پکې نه دي تر سره شوي.

## د مهاجرینو چارو وزارت مسلکي مرستیـــــال د بلــــــخ والي ســـــره ولیــــــدل

د مهاجرینو اوراستنېدونکو چارو وزارت مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد او مل پلاوي د بلـــــخ ولایت له والي حاجي محمد یوسف وفا سره د زمري په ۱۴ مه لیدنه وکړه.

په دې لیدنه کې لومړي د بلــــخ والي پلاوي ته ښه راغلاست ووایه او په یاد ولایت کې یې د مهاجرینو په برخه کې یو لړ شته ستونزې له ښاغلي راشد سره شریکې کړې.



په ناسته کې دوا ړو لوریو په بلخ ولایت کې راستنېدونکو، داخلي بېځایه شوو او اړمنو کورنیو ته د سرپناه جوړولو، بشري مرستو رسولو او نورو اړینو موضوعاتو خبرې وکړې.

ټاکل شوې ده، چې د مهاجرینو چارو وزارت مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد او ورسره پلاوی به د دې سفر په ترڅ کې په دغه ولایت کې د مهاجرینو په برخه کې د شته ستونزو او ننګونو د برسی، په موخه د مهاجرینو له ګڼ شمېر استازو، د مهاجرینو او په دغه ولایت کې د مهاجرینو له ښارګوټو څخه له نږدې لیدنه وکړي او د حل په برخه کې به یې لازمې کړنې تر سره کړي.

## د مسلکي مرستیال په مشرۍ پلاوي د بلخ ولایت د مهاجرینو له ښارګوټو څخه لیدنه وکړه

د مهـــــاجرینو چارو وزارت مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد په مشرۍ پلاوي بلخ ولایت ته په خپل سفر کې د مهاجرینو له ښارګوټو څخه د زمري په ۱۴مه لیدنه وکړه او د دغه ښارګوټو د اوسېدونکو ستونزې او ننګونې واورېدې.

د قالین بافانو د مهاجرینو ښارګوټي اوسېدونکو د مهاجرینو چارو وزارت څخه په دغه ښارګوټي کې د خدمتونو د وړاندې کولو او د ټولنیز او ښاري ژوند د برابرولو له امله مننه وکړه او یادونه یې وکړه چې د اوبو رسولو شبکه د مهاجرینو چارو وزارت په رهبرۍ جوړه شوې او هم له دولتي بریښنا څخه برخمن دي.

همدا رنګه په دغه ښارګوټو کې یو شمېر نورې بنسټیزې پروژې لکه، د اوبو د ژورو او نیمه ژورو څاګانو کیندل، پلونو، پلچکونو، روغتیایي مرکزونو، ښوونځیو، جوړل هم پلي شوې دي.

د ښارګوټو اوسېدونکو په دغه ښارګوټو کې د ځمکې غصب یو عمده ستونزه یاده کړه او د مهاجرینو چارو وزارت څخه یې د یادې ستونزې د حل او نیمګړو پروژو د بشپړېدو غوښتنه وکړه



ښاغلي راشد د ښارګوټو د بېلابېلو برخو څخه د لیدنې پر مهال د یادو ستونزو د حل ژمنه وکړه ویې ویل ،چې د مرکزي اداري سره په ګډې همکارۍ او همغږۍ به یې د حل په برخه کې لازمې کړنې تر سره کړي.

د بلخ ولایت د مهاجرینو چارو ریاست د راستنېدونکو د بیا یوځای کېدو آمر انجنیر بشیر د معلوماتو له مخې په دغه ولایت کې د مهاجرینو لپاره څلور ښارګوټي ځانګړي شوي، چې یو یې د قالین بافانو د مهاجرینو ښارګوټی دی ، د مرکز څخه ۲۲ کیلومتره لرې په ۱۰۰۰ جریبه ځمکه کې جوړ شوی، تفصلي پلان لري، چې ټولې ۱۴۸۴ نمرې کېږي.

اوسمهال پکې ۲۴۰ کورنۍ ژوند کوي، ۱۲۰۰ نمرې یې د کمیسیون له لـــوري پاس شوي، ۸۳۳ تنو یې په بانک کې پیسې تحویل کړې، ۶۷۷ نمرې خلکو ته سپارل شوې، ۴۸۴ پاتې دي، د ملګرو ملتونو د کډوالو اداري له لوري پکې ۴ ژورې څاګانې، داوبو رسونې شبکه، سولرپمپ او ۱۴۲ شلتېږې جوړې شوې او د ناروې د کډوالو اداري له لوري ۸۱ شلتېږې جوړې شوې، د GIZ مؤسسې له لـــــــوري ۱۰ نیمه ژورې څاګانې کیندل شوې، روغتیایي مرکز نه لري، د ازبکستان هېواد له لور ۱ ښوونځی، د وزارت مقام له لوري ۱۳ کیلومتره سرک جوړ شوی، ۴۵ پلچکونه، د ریل پټلۍ، د برق ۸۱ پایه ګانې، یو درې اطاقه ښوونیز مرکز او 1 د قالینو د پروسس مرکز پکې جوړ شوي، ۱۰۰۰ نمرې یې خط اندازي شوي او ۲۷۰ نمرې پکې د سوداګرۍ او صنایع وزارت له لوري وېشل شوي او کودکستان نه لري.

دوهم یې د مولانا جلال الدین محمد بلخي د مهاجرینو ښارګوټی دی، چې د مرکز څخه ۲۲ کیلومتره لرې په ۳۱۰۰ جریبه ځمکه کې جوړ شوی، تفصلي پلان لري، چې ټولې ۶۵۱۶ نمرې کېږي. اوسمهال پکې ۶۰ کورنۍ ژوند کوي، ۳۱۹۶ تنو یې په بانک کې پیسې تحویل کړې، ۱۳۵۰نمرې خلکو ته سپارل شوې، ۵۲۶۵ پاتې دي، اکتېډ موسسې له لوري پکې ۲۶۰ شلتېږې جوړې شوې، ۶ د اوبو ژورې څاه ګانې سره د ذخیرو، یو ښوونځی او یو روغتیایي مرکز جوړ شوی، د اوبو رسونې شبکه نه لري، د ای ساف له لوري ۱ کانتینر، د وزارت مقام له لوري ۱۳۲۲ کیلومتره سرک او ۲۵ پلچکونه جوړ شوي، د ریل پټلۍ، د برق پایه ګانې او ښوونیز مرکزونه لري او ۲۸۸۸ نمرې یې د ښار جوړونې او مهاجرینو چارو وزارت له لوري خط اندازي شوي.

درېيم يې قشلاک د مهاجرينو ښارګوټي دی، چې د مرکز څخه ۶۲ کيلومتره لرې په ۱۰۳ جريبه ځمکه کې جوړ شوی، تفصيلي پلان لري، چې ټولې ۳۰۷ نمرې کېږي او سمهال پکې ۱۰۵ کورنۍ ژوند کوي، ۱۰۳ تنو يې په بانک کې پيسې تحويل کړي، ۱۰۵ نمرې خلکو ته سپارل شوي، ۲۰۲ پاتې دي، د ملګرو ملتونو د کډوالو اداري لورې پکې ۱۰۵ شلترې جوړې شوي، داکتېډ له لورې۱ د اوبو ژوره څاه او يو ښوونځي جوړ شوی، د اوبو رسونې شبکه او روغتيايي مرکز نه لري، دعامو خلکو له لورې پکې يو مسجد جوړ شوی، د ملګرو ملتونو د کډوالو اداري لورې ۸۱۰ کيلومتره سرک ، ۳ پلچکونه، ۱۵۰ کورنيو ته د لمريزې برېښنا تختې او ۱۰۵ نمرې خط اندازي شوي دي.

اوڅلورم يې هم د قرقين ولسوالۍ د مهاجرينو ښارګوټی دی، چې د مرکز څخه ۲۲ کيلومتره لرې په ۲۰۰ جريبه ځمکه کې جوړ شوی، تفصلي پلان لري، چې ټولې ۲۳۱ نمرې کېږي. او سمهال پکې څوک ژوندنه کوي، ۸۸ نمرې خلکو ته سپارل شوي، شلترې، د اوبوڅاګانې، د اوبو شبکې، روغتيايي مرکز، مسجد، ښوونځي، د سرک جعل اندازي، پلونه، پلچکونه يې نه دي جوړشوي، عام المنفعه پروژې پکې نه دي پلي شوي او ۳۱ نمرې يې د ښارجوړونې وزارت لورې خط اندازي شوي دي.

## د مهاجرينو چارو وزارت مسلکي مرستيال په بلخ کې د يو شمېر مرستندويه بنسټونو له استازو سره ناسته وکړه

د مهاجرينو چارو وزارت مسلکي مرستيال مولوي عبدالرحمن راشد ، بلخ ولايت ته د خپل سفر په ترڅ کې په دغه ولايت کې د يوشمېر مرستندويه بنسټونو له استازو سره د زمري په ۱۶ مه ناسته وکړه.

په ناسته کې ښاغلي راشد وويل، زموږ د سفر موخه په دغه ولايت کې د مهاجرينو چارو وزارت سره د لاسليک شوو هوکړه ليکونو مطابق د همکارو مرستندويه بنسټونو د فعاليتونو څخه څارنه ده.

په همدې اساس په بلخ ولايت کې ټولې مرستندويه موسسې بايد د شته امکاناتو څخه کار واخلي او هغه کورنيو سره چې مالي او ځاني زيانونه يې ليدلي بشري مرستې ترسره کړي.

هغه د سروې پر روښتيا ټينګار وکړو او د مرستندويه بنسټونو له استازو څخه يې غوښتنه وکړه، چې په ياد ولايت کې دې د اړمنو کورنيو سره هراړخيزې بشري مرستې تر سره شي.

د يادو موسسو استازو وويل، چې د ټولو مستحقو او اړمنو کورنيو په سروې او د مرستو د وېش په روښتيا کې به له پوره دقت څخه کار اخلي او مرستې به د مهاجرينو چارو وزارت سره د لاسليک شوو هوکړه ليکنو مطابق په هغو کورنيو وېشي چې په رښتني توګه د مرستو حقداري وي.



## د مهاجرينو چارو وزارت مرستيال د مهاجرت نړيوال سازمان مرستو ته د لاسرسي او د بېځايه شوو د تعقيب د پروګرام له مسؤلينو سره ليدنه وکړه

د مهاجرينو چارو وزارت مسلکي مرستيال مولوي عبدالرحمن راشد په افغانستان کې د مهاجرت نړيوال سازمان بشري مرستو ته د لاسرسي د مسؤل ښاغلي عدنان بغجتي او د بېځايه شوو د تعقيب د پروګرام له مسؤل هنيري کونينن سره د وږي په ۷ مه په خپل کاري دفتر کې ليدنه وکړه.

په دې لیدنه کې په بادغیس ولایت کې د راستنېدونکو کورنیو په سروې او پېژندې خبرې وشوې.

ښاغلي عدنان وویل، مخکینۍ ناستې چې د مهاجرینو چارو وزارت له چارواکو سره پخوانیو ناستو زموږ پر فعالیتونو مثبتې اغېزې درلودې او د لاسته راوړنو د کې وې او په بادغیس ولایت کې د دې اداري د فعالیتونو د بیا پیل غوښتونکي شو.

ښاغلي هنیري وویل، چې د سروې موخه نه یوازې د بېړنیو مرستو رسول دي، بلکې د بېځایه شوو لپاره د دایمي حل لارې په موندلو کې هم اغېزمنې دي.

مولوي راشد وویل، هر بنسټ او موسسه باید د مهاجرینو چارو وزارت سره په همغږۍ او هوکړې خپل فعالیتونه ترسره کړي، مرستې باید د هوکړه لیک، تعامل او یا میکانیزم په وړاندې کولو سره ترسره شي، د وزارت او د هغه مرستندویه بنسټونو ترمنځ چې مرستې ترسره کوي بشپړه همغږي موجوده وي ترڅو وکولای شو چې لوړو چارواکو ته ځواب ویونکي اوسو.

په دې لیدنه کې د وزارت د دفتر رئیس الحاج قاري محمد اجمل ویاړ او د وزارت حقوقي سلاکار محمود الحق احدي هم شتون درلود او په راتلونکي کې یې د وزارت سره د فعالیتونو او جزیاتو د شریکولو غوښتنه یې وکړه.



## د مهاجرینو چارو وزارت اړوندو څانګو کې له سلو زیاتو کار غوښتونکو برېښنایي ازموینه ورکړه

د مهاجرینو چارو وزارت کې ۱۶۹ تنو کار غوښتونکو د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو په کمېسیون کې د وږي په ۷مه برېښنايي ازموینه ورکړه.

په مرکز او ولایتونو کې د مهاجرینو د ښارګوټو د انجینرۍ ۲۲ بستونو له پاره ۳۱۱ تنو نوم لیکنه کړې وه، له منځه یې ۱۶۹ تنو ازموینو ته لاره پیدا کړې وه، چې برېښنایي ازموینه ترې واخیستل شوه.

د ازموینې له اخیستو مخکې د وزارت مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد د موضوع اړوند خبرې وکړې ویې ویل، د کارونو د لاښه والي په موخه لازمه ده، چې کار اهل کار ته وسپارل شي او دې موخې ته د رسېدو له پاره غوره لاره داده، چې ازموینه په برېښنایي شکل په شفاف ډول واخیستل شي.

هغه زیاته کړه، هر څوک چې وړتیا لري په ازموینه کې به بریالی کېږي، اداري په کار پوهه، ژمن او مخلصو کسانو ته اړتیا لري او د مهاجرینو چارو وزارت د اداري اصلاحاتو له کمېسیون څخه چې ازموینه په برېښنایي ډول اخلي او نتیجه یې چټکه او په شفاف ډول سره ده ستاینه کوي.

همدرانګه په دې مراسمو کې د ملکي خدماتو د کمېسیون رئیس د برېښنایي ازموینې د اخیستو د څرنګوالي او په روان کال کې د یادې ادارې د فعالیتونو په اړه او د اداره امور سلاکار صداقت الله صداقت د هغه برنامو په اړه چې د ازموینو اخیستو په برخه کې په پام کې نیول شوي، ګډونوالو ته معلومات ورکړل.

وروسته یاد و چارواکو د ازموینې د اخیستو پروسې څخه لیدنه او څارنه وکړه.

د مهاجرینوچارو وزارت دبشري سرچینو رئیس مفتي مدیرګل احمدي په خبره په پام کې ده، چې په راتلونکو ورځو کې به د نورو ۹۰ بستونو لپاره په دغه کمېسیون کې د ۲۶۹۱ تنو کار غوښتونکو څخه برېښنایي ازموینه واخیستل شي.



## د مهاجرینو چارو وزارت او درې موسسو ترمنځ د همکاریو هوکړه لیکونه لاسلیک شول

د ۳۴۲ زره ډالرو په ارزښت درې هوکړه لیکونه د مهاجرینو چارو وزارت او د هیات معاونت بین المللي، خیریه بشري او انکشاف اجتماعي و اقتصادي موسسې ترمنځ د وږي په ۸ مه لاسلیک شول.

د هیات معاونت بین المللي موسسې سره د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې یاده موسسه به په بلخ ولایت کې د ۱۶ زره او ۶۹۱ ډالرو په ارزښت یو زرو ۷۱۰ تنو ته په تخنیکي او مسلکي برخو کې روز نیز پروګرامونه پر لاره اچوي.

همدارنګه موسسه خیریه بشري به د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې د ننګرهار ولایت په سرخرود او بهسودو ولسوالۍ کې د ۲ سوه او څلوېښت زره ډالرو په ارزښت یو زرو او ۸۹۰ کورنیو ته د خوراکي توکو د برابرولو، نغدي پیسو، د سبزیجاتو تخم، روغتیا ساتنې، د میندو او ماشومانو د ساتنې، کرونا او د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي مخنیوي په اړه د عامه پوهاوي په برخو کې لګوي.

په همدې توګه د انکشاف اقتصادي و اجتماعي موسسه به د ۸۵ زره او ۳۱۰ ډالرو په هرات ولایت کې ۱۳ زره او ۵۰۰ تنو ته د پېژند پاڼې د اهمیت، د تولد کارت او د هغه د ترلاسه کولو په برخه کې لګوي.

یاد هوکړه لیکونه د مهاجرینو چارو وزارت د مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد او یادو موسسو د استازو ترمنځ لاسلیک شول.

## د مهاجرینو چارو وزارت او دریو موسسو ترمنځ د همکاریو هوکړه لیکونه لاسلیک شول

د ۳۵۸ زره او ۵۵۸ امریکایي ډالرو په ارزښت د مهاجرینو چارو وزارت او دریو همکارو مؤسسو ترمنځ وږي په ۱۲مه د همکاریو هوکړه لیکونه لاسلیک شول.

په افغانستان کې د مثبت بدلون د ځوانانو موسسې سره د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې یاده موسسه به په ننګرهار او کونړ ولایتونو کې ۹۲ زره او ۶۵۰ ډالره ۴۵۰ تنو ته عامه خدمتونو ته د لاسرسي په برخه کې د ظرفیت لوړونې او د روزنیزو پروګرامونو په تنظیمولو کې لګوي.

د پیاوړولو او بدلون له پاره د ژمنتیا موسسه به یو سلو، ۹۸ زره او ۹۰۸ ډالره په کندز ولایت کې ۱۹۲۲ تنو ته د حرفوي زده کړو، کوچني کارو باروبارونو، د اقتصادي فرصتونو په اړه د پوهاوي، د سیمه ییزو شوراګانو په رامنځ ته کولو او د داخلي بېځایه شوو د ستونزو په اړه د بحث د ګروپونو په جوړولو لګوي.

په همدې توګه د ماشومانو لپاره د المان کمېټه به ۶۷ زره ډالر په ننګرهار او کابل ولایتونو کې ۲ زره او ۸۰ کورنیو ته د حرفوي زده کړو او خوراکي توکو د وېش په برخه کې لګوي.

یاد هوکړه لیکونه د مهاجرینو چارو وزارت د مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد او یادو موسسو د استازو ترمنځ لاسلیک شول.





## په افغانستان کې د مهاجرت نړیوال سازمان د وزارت سره په همغږۍ او همکارۍ تینګار وکړ

په دې لیدنه کې د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت حقوقي سلاکار او د مالي او اداري معینیت سرپرست محمود الحق احدي، د پلان او پالیسۍ رئیس قاري احمد الله هاشمي او په افغانستان کې د مهاجرت نړیوال سازمان د عودت برنامې له مسؤل ښاغلي نیکولاس جیمس هل ترمنځ ترسره شوه، چې پکې راستنېدونکو ته د ګډو فعالیتونو او د کابل په هوایي ډګر کې د یاد دفتر د بیا ځلې فعالېدو په اړه خبرې وشوې او نیکولاس جیمس هل د مهاجرینو چارو وزارت سره د همغږیو او همکاریو په برخه کې ډاډ ورکړ.

## د مهاجرینو چارو وزارت او یوې مؤسسې ترمنځ د همکاریو هوکړه لیک لاسلیک شو

د مهاجرینو چارو وزارت او د افغانستان او امریکې د دوستۍ بنسټ ترمنځ د وږي په ۲۰ مه د همکاریو هوکړه لیک لاسلیک شو.

د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې به یاد بنسټ د ۱۹ زره او ۴۴۰ امریکایي ډالرو په ارزښت په بلخ ولایت کې ۲۰۰ کورنیو سره د خوراکي توکو د وېش په برخه کې مرستې کوي.

دغه هوکړه لیک د مهاجرینو چارو وزارت د مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد او د یاد بنسټ د مسؤلینو ترمنځ لاسلیک شو.



## مسلکي مرستیال په کابل کې د ترکیې سفارت سلاکار او قونسل سره لیدنه وکړه

د مهاجرینو چارو وزارت مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد په کابل کې د ترکیې سفارت له داخلي سلاکار آقایان عبدالله دندار او قونسل آلپ بورا سره د تلې په ۲۷مه په خپل کاري دفتر کې لیدنه وکړه.

په دې لیدنه کې په ترکیې کې د افغان مهاجرینو پر ستونزو خبرې اترې وشوې او ښاغلي په هغه هېواد کې له مېشتو افغان کډوالو سره په بېلا بېلو برخو کې د ترکیې هېواد او خلکو د همکاریو څخه مننه وکړه.

په کابل کې د ترکیې سفارت سلاکار عبدالله دندار وویل؛ موږ په ترکیې کې د مېشتو افغان کډوالو سره د دوستۍ او ورور ګلوۍ اړیکو ته پراختیا ورکوو او له ترکیې څخه له ۶۰۰ زیات افغانان، چې اسناد نه لري غواړي خپل هېواد ته ستانه شي، په دې برخه کې د افغانستان حکومت څخه د همکاریو غوښتنه کوو.

ښاغلي راشد د ترکیې هېواد د همکاریو څخه مننه وکړه او ویې ویل؛ په ترکیه کې د افغان کډوالو د ستونزو د هواري په خاطر یو داسې میکانیزم او کړنلارې ته اړتیا ده، چې باید د دواړو خواوو ترمنځ د هوکړې له مخې چمتو شي، چې د هغې له مخې افغان مهاجرین په عزت او وقار سره خپل هېواد ته راستانه شي او دا موضوع باید د ملګرو ملتونو د کډوالو اداري او مرستندویه بنسټونو سره شریکه کړو، ترڅو په راتلونکې کې ملګري ملتونه دې ته قانع کړو چې په دې برخه کې همکاري وکړي.

د ترکیې سفارت سلاکار د مقابل لوري خبرې تائید کړې او ویې ویل؛ موږ په دې برخه کې هر ډول همکاریو ته چمتو یو او له تاسې سره به مرسته کوو. هغه همدارز د مهاجرینو چارو وزارت او ترکیې سفارت ترمنځ د ارتباطي سیستم د رامنځته کېدو غوښتنه وکړه.

مسلکي مرستیال وویل، موږ به د حکومت له مشرانو سره خبرې وکړو او یاده موضوع به ورسره شریکه کړو.

په پای کې دواړو لوریو په همکاریو او همغږیو ټینګار وکړ.

په دې لیدنه کې په خپله خوښه راستنېدو ته د هڅونې رئیس مولوي محمد جان خدرخېل هم شتون درلود.



## د مهاجرینو چارو وزارت او یوې مؤسسې ترمنځ د همکاریو هوکړه لیک لاسلیک شو

د مهاجرینو چارو وزارت او د افغانستان له پاره د احیای مجدد انصاري مؤسسې ترمنځ د وږي په ۳۰مه د همکاریو هوکړه لیک لاسلیک شو.

د لاسلیک شوي هوکړه لیک مالي لګښت ۲ میلیونه او ۷۷۵ امریکايي ډالرډی، چې له مخې به یې یاده مؤسسه په هرات، غور، فراه او بادغیس ولایتونو کې د ملګرو ملتو د کډوالو اداري په مالي مرسته ۳۰ زره کورنیو ته، چې پکې بېځایه شوي او نوي ځای پرځای شوې کورنۍ شاملې دي د نغدي، ژمنیو او د غیر خوراکي توکو د وېش په برخه کې مرستې تر سره کړي.

یاد هوکړه لیک د مهاجرینو چارو وزارت د مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد او د یادې مؤسسې د رئیس ترمنځ لاسلیک شو.



## د مهاجرینو چارو وزارت او دوه موسسو ترمنځ د همکاریو هوکړه لیکـــــــــونه لاسلیک شول

د مهاجرینو چارو وزارت، EPEK او ډنمارک د مهاجرینو ټولنې ترمنځ د څه باندې ۴ میلیونو ۸۴۰ زرو امریکایي ډالرو په ارزښت پنځه هوکړه لیکونو د چنګاښ په ۳ مه لاسلیک شول.

د مؤسسو سره د لاسلیک شوي هوکړه لیک مالي لګښت ۴ میلیونه، ۸۴۰ زره او ۸۶۶ امریکایي ډالره دی، چې له مخې به یې ۴ سوه او ۱۴ زره او ۱۷۴ تنو سره د کمپیوټر، انګلیسي ژبې، حسابدارۍ، پښتو، ریاضي مضامینو، ښوونې او روزنې او د ژوند د مهارتونو په اړه کورسونه پر لاره اچوي او ۷۶۰ تنو زده کوونکو سره به په کابل، غزني، میدان وردګ، پروان، کاپیسا، پکتیکا، قندهار، زابل، هلمند، نیمروز، هرات، فراه، بادغیس، ننګرهار، کونړ او نورستان ولایتونو کې پلي کوي.

یاد هوکړه لیکونه د مهاجرینو چارو وزارت د حقوقي سلاکار او د پلان او پالیسۍ سرپرست مرستیال مولوي محمود الحق احدي او یادو موسسو د استازو ترمنځ لاسلیک شول.



## د مهاجرینو چارو وزارت سرپرست د ژغورنې نړیوالې کمېټې د خوندیتوب برخې له مسؤل سره لیدنه وکړه

د مهاجرینو چارو وزارت سرپرست الحاج قاري محمد اجمل ویار په افغانستان کې د ژغورنې نړیوالې کمېټې د خوندیتوب برخې له مسؤل ښاغلي کنیفن موریتي سره د چنګاښ په ۱۸مه په خپل کاري دفتر کې لیدنه وکړه.

په دې لیدنه کې ښاغلي موریتي د هېواد په څلورو ولایتونو کې د اړمنو او مستحقو کورنیو لپاره د دغې ادارې د فعالیتونو په اړه معلومات ورکړل.

د مهاجرینو چارو وزارت سرپرست د مرستو رسولو په برخه کې د یادې ادارې د فعالیتونو څخه مننه وکړه او غوښتنه یې وکړه، چې هغه سیمو کې له اړمنو کورنیو سره، خپلې مرستې ډېرې کړي، چې په تېرو کلونو کې ورسره بشري مرستې نه دي ترسره شوي.

په یاده ناسته کې د مسلکي معینیت سرپرست مرستیال مولوي محمود الحق احدي هم شتون درلود او په هغه سیمو کې یې د مرستو د زیاتوالي غوښتنه وکړه، چېرته چې راستانه شوي ډېرته خپلو اصلي ځایونو ته ځي.

ښاغلي موریتي د یادې ادارې د همکاریو د دوام په اړه ډاډ ورکړ.



## د مهاجرينو چارو وزارت او د ژغورنې نړيوالې کمېټې ترمنځ د همکاريو هوکړه ليک لاسليک شو

د مهاجرينو چارو وزارت او د ژغورنې نړيوالې کمېټې ترمنځ د چنګاښ په ۱۹ مه د همکاريو هوکړه ليک لاسليک شو.

د لاسليک شوي هوکړه ليک مالي لګښت (۷) سوه، ۵۵ زره او ۱۷۱ امريکايي ډالره دی، چې له مخې به يې په هرات، لغمان، خوست او ننګرهار ولايتونو کې (۲) زره او ۵۰۰ کورنيو سره د ټولنيزو کمېټو رامنځ ته کولو، د مستحقينو سروې، نغدي مرستو او د عام المنفعه پروژو د پلي کولو په برخه کې مرستې وشي.

ياد هوکړه ليک د مهاجرينو چارو وزارت د حقوقي سلاکار او د مسلکي معينيت سرپرست مرستيال مولوي محمود الحق احدي او د ژغورنې نړيوالې کمېټې د مسؤل ترمنځ لاسليک شو.



## د مهاجرينو چارو وزارت سرپرست په افغانستان کې د ناروې د مهاجرينو ټولنې له مسؤل سره ليدنه وکړه

د مهاجرينو چارو وزارت د دفتر رئيس او د وزارت سرپرست الحاج قاري محمد اجمل ويار د افغانستان لپاره د ناروې د مهاجرينو ټولنې له رئيس ښاغلي نيل ترنر سره د چنګاښ ۲۲ مه په خپل کاري دفتر کې ليدنه وکړه.

د ليدنې په پيل کې الحاج محمد اجمل ويار د تېرو او وروستيو کلونو د هوکړه ليکونو، د ياد دفتر د پروژو د ځينو برخو د څنډېدو او د پروژو لاندې سيمو کې د موجوده شکايتونو يادونه وکړه ويې ويل، چې د يادې ټولنې دفتر بايد سروې، د مرستو وېش، په سرحدونو کې بېځايه شوو او راستنېدونکو ته د مرستو د کميت او کيفيت، د پروژو د ځنډولو لامل‌ونه او نور اړوند مسايل بايد د مهاجرينو چارو وزارت سره همغږي شي.

هغه زياته کړه، په يو شمېر ولايتونو کې د خلکو ستونزې د هغو ولايتونو په پرتله ډېرې دي، په کومو کې چې د ناروې ټولنه فعاله ده او که د ساحو د انتخاب په اړه له وزارت سره مشوره او هوکړه وشي، پايلې به يې ښې وي او ټولنه بايد د خپلې هرې پروژې لپاره د وزارت سره هوکړه ليک ولري.

د ناروې د مهاجرينو ټولنې رئيس ښاغلي ترنر د دغه دفتر د بې پرې فعاليتونو، د هوکړې پرموجوديت، مشورې او د همغږيو پر شتون ټينګار وکړ ويې ويل، په هره برخه کې چې د مهاجرينو وزارت نظر او غوښتنه ولري، هوکړې، همغږۍ او د ستونزو حل ته حاضر دي او چمتو دي چې د پروژو تخنيکي مسايل په تخنيکي غونډو کې مطرح کړي.

د وزارت حقوقي سلاکار او د مسلکي معينيت سرپرست محترم مولوي محمود الحق احدي او همدارنګه د پلان او پالیسۍ رئيس قاري احمدالله هاشمي د پروژو د طرحې او مشخصاتو، د مرستو او کومکي موادو د کميت او کيفيت، د خلکو د شکايتونو د موجوديت، د وېشل شوو مرستو په برخه کې د بې غورۍ او د مرستو د ترلاسه کولو په موخه د سروې شوو کسانو په شمېر کې د تضاد په اړه خبرې وکړې.

هغه زياته کړه، که چېرې د پروژو له پلي کېدو وړاندې په ياد شوو مواردو کې تفاهم، مشوره او همغږي شتون ولري او په هره برخه کې ټولنه په ليکلي ډول وزارت ته خبر ورکړي، د شته ستونزو د حل تر څنګ به دغه مرستې هم اغېزمنې وي.

دغه راز د هرات ولايت د اسلام قلعه آمريت مسؤل چې په ناسته کې يې شتون درلود په اسلام قلعه کې د راستنېدونکو د مساعدتي موادو لپاره د يخچالونو د برابرولو، د جبري ډيپورټ شوو لپاره د پيسو د مرستې او د کال سنټر د جوړولو غوښتنه وکړه.

د ټولنې مسؤل د وزارت له مسوولينو مننه وکړه او ويې ويل، چې د شته ستونزو د هوارې لپاره چمتو دي او په دې موخه به ګډې تخنيکي غونډې جوړې کړو.

## مهاجرینو چارو وزارت کې ۸۰ تنو کارکوونکو ته روزنیز ورکشاپ ترسره شو

د مرکزي او ولایتي ریاستونو او آمریتونو ۸۰ تنو کارکوونکو ته د مالي مسایلو، محاسبې او تدارکاتو په اړه روزنیز ورکشاپ د چنګاښ په ۲۶مه د مهاجرینو چارو وزارت د ناستو په تالار کې ترسره شو.

دغه ورکشاپ د بشري سرچینو، مالي او اداري ریاست او تدارکاتو آمریت له لخوا د درې ورځو لپاره د وزارت د مسلکي او مجربو کارکوونکو له لورې د مالي، محاسبې او تدارکاتي موضوعاتو د تشریح او په دې برخه کې د نمګړتیاوو او ستونزو د حل په موخه په یادو برخو کې ترسره کېږي.

د ورکشاپ په پیل کې د بشري سرچینو رئیس مفتي مدیرګل احمدي د مالي، محاسبې او تدارکاتو د طی مراحلو په بهیر کې د شته نمیګړتیاوو یادونه وکړه او په یو کمزوري مؤمن باندې د قوي مؤمن او په کمزوري کارکوونکي باندې د پوهه کارکوونکي فوقیت ته په اشارې سره د کارکوونکو د ظرفیت په لوړولو ټینګار وکړ.

هغه زیاته کړه، د ظرفیت لوړولو یوه ګټوره لاره د ورکشاپونو جوړول دي او په دې ورکشاپ کې د وزارت په مرکز کې د یادو برخو مسلکي کارکوونکي ټول اړوند مسایل بیانوي او له تاسې ګډونوالو څخه مو غوښتنه داده، چې پاملرنه ورته وکړئ. پریزنټیشنونو ته په صبر او پوره دقت سره متوجې اوسئ او له دې څخه لازمه استفاده وکړئ.

وروسته د مالي او اداري ریاست سرپرست ښاغلي جمال ځدران د وزارت د بودیجې د وضعیت، لګښتونو، د بودیجې او د مالي او حسابي اسنادو طی مراحلو او پروخت د مرکز او ولایتونو ترمنځ د اسنادو په اخیستو او لېږلو کې نمګړتیاوو ته اشاره وکړه او د ورکشاپ ترسره کول یې د یادو ستونزو په حل کې اغېزمن وباله.

هغه زیاته کړه، د بودیجې له محدودیت او کسر سره باید له شته امکاناتو څخه اعظمي ګټه واخیستل شي او د ورکشاپ له ګډونوالو څخه موغوښتنه داده، چې د یادو موضوعاتو په اړه بیا بیا پوښتنې وکړي او لازم معلومات ترلاسه کړي.

وروسته د تدارکاتو آمریت سرپرست محمد زمان د تدارکاتو د اصولو او مقرراتو په اړه او محمد رفیع توخي د بودیجې په اړه خپل پریزینټیشنونه د ورکشاپ ګډنوالو ته وړاندې کړل.

د ورکشاپ په وروستۍ ورځې مالي او اداري رئیس ښاغلي جمال ځدران او د بشري سرچینو رئیس مفتي مدیرګل احمدي په ورکشاپ کې د مطرح شوو ستونزو یادونه وکړه او یوشمېر مهم مسایل یې تشریح کړل او د هغوی په سمو پلي کولو یې ټینګار وکړ.

په پای کې د ګډونوالو لپاره د ارزیابۍ ځانګړې فورمونه، چې یکې د نظرونه او وړاندیزنه برخه هم وه د ډکولو په موخه ووېشل شول، چې د هغه په بشپړولو سره ورکشاپ پای ته ورسېده.



## د مهاجرینو چارو وزارت او همکارو مؤسسو ترمنځ د همکاریو دوه هوکړه لیکونو لاسلیک شول

د څه د پاسه ۳۵۰ زره امریکایي ډالرو په ارزښت د مهاجرینو چارو وزارت او دوه مؤسسو ترمنځ د چنګاښ په ۲۷مه د همکاریو هوکړه لیکونه لاسلیک شول.

د اړمنو خلکو مؤسسې سره د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې یاده اداره به په میدان وردګو ولایت کې یو زرو ۵۲ کورنیو ته ۲ سوه ۱۸ زره او ۷۶۶ امریکایي ډالره دنغدي مرستو، د کرونا

ناروغۍ د عامه پوهاوي او تغذیه په برخه کې د د دغه ولایت مهاجرینو چارو آمــــــریت تر څارنې لاندې مصرفوي.

همدارنګه د موسسه تحقیقات ومطالعات اجتماعي سره د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې یاده اداره به کابل، هرات، بلخ او کندهار ولایتونو کې د ترکیې، پاکستان، ایران او اروپایي هېوادونو څخه راستانه شوو افغانانوته ۱۳۱زره او ۴۳۷ امریکایي ډالره د سروې په برخه کې مصرفوي.

یاد هوکړه لیکونه د مهاجرینو چارو وزارت د حقوقي سلاکار او د مسلکي معینیت سرپرست مولوي محمود الحق احدي او د یادو موسسو د مسؤلینوترمنځ لاسلیک شول.





## د مهاجرینو چارو وزارت او یوشمېر مؤسسو ترمنځ د همکاریو هوکړه لیکونه لاسلیــــک شول

د څه د پاسه ۸ میلیونه امریکایي ډالرو په ارزښت د مهاجرینو چارو وزارت او دریو همکارو مؤسسو ترمنځ د زمري په ۱۱مه د همکاریو هوکړه لیکونه لاسلیک شول.

د احیای صحت و جامعه افغاني مؤسسې سره د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې یاده موسسه به په کندهار، زابل،هلمند، ارزګان او نیمروز ولایتونو کې څه د پاسه ۵ میلیونه او ۳۰۰ زره ډالر، ۳ زره او ۵۴۰ کورنیوته د لمریزې برېښنا د تختو د وېش، سرپناه جوړولو په برخه کې لګوي.

د برک مؤسسه به ۳ میلیونه او ۵۰۰ زره ډالر په کابل، خوست، کندهار او پکتیکا ولایتونوکې ۳ زره او ۸۵۰ کورنیو د لمریزې برېښنا د تختو د وېش، حرفوي زده کړو اود ځلورو ټولنیزو مرکزو په جوړولو لګوي.

همدارنګه د اپیک انټر نیشنل مؤسسه به د خلیل الله خلیل په کمپ کې له ۸ زرو څخه زیات ډالر له ۲۵۰ څخه تر ۳۰۰ کورنیو ته د څښاک د اوبو د برابرولو په برخه کې لګوي.

په همدې د حفاظت و تحققات صحی مؤسسه به له ۱۹ زرو څخه زیات ډالر په سمنګان او زابل ولایتونو کې د نغدي مرستو د وېش د څارنې په برخه کې لګوي.

یاد هوکړه لیکونه د مهاجرینو چارو وزارت حقوقي سلاکار او د مسلکي معینیت سرپرست مرستیال مولوي محمود الحق احدي او یادو مؤسسو د استازو ترمنځ لاسلیک شول.







## د مسلکي معینیت سرپرست په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د معاونت پلاوي سره لیدنه وکړه

د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت حقوقي سلاکار او د مسلکي معینیت سرپرست مولوي محمودالحق احدي د اقلیمي بدلون او چاپیرل ساتنې او په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د معاونت د سیاسي او امنیتي برخې له پلاوي سره د زمري په ۱۵مه په خپل کاري دفتر کې لیدنه وکړه.

په دې لیدنه کې د اقلیمي بدلون، وچکالۍ او په مهاجرت کې د هغه د رول په اړه خبرې اترې وشوې.

ښاغلي احدي وویل، بدبختانه، چې افغانستان د اقلیمي بدلون او وچکالۍ له امله زیات متاثر شوی او شک نه شته، چې د دې بدلونونو اغېز د افغانستان سربېره په نوره نړۍ کې هم لیدل کېږي. نومړي زیاته کړه، باید وویل شي، چې په افغانســـــــتان کې د مهاجرت لامل یوازې اقلیمي بدلون نه، بلکې د پردیو مداخلې او نور هم شامل دي او افغانســـــتان د وروستیو دوو لسیزو کې له دې اړخه له ډېرو ستونزو ســـــره مخ دی.

د مقام د دفتر رییس قاري محمد اجمل ویاړ او د داخلي بېځایه شوو وضعیت ته د رسېدو رئیس مولوي سردار محمد شېرزاد چې په ناسته کې یې ګډون درلود په مهاجرتونو کې د اقلیمي بدلون او وچکالۍ د رول په اړه خبرې وکړې ویې ویل،

دا یوه نړیواله ستونزه ده او بې له شکه د ډلییزو مهاجرتونو لامل کېږي.

هغه زیاته کړه، چې افغانستان له دې اړخه له زیاتو ستونزو سره مخ دی او له دې ستونزو څخه د وتو لاره د وزارت سره د مرستندویه بنسټونو همکاري او همغږي ده.

د یاد دفتر د اقلیمي بدلون او چاپیریال ساتنې برخې استازې میرمن چیریتي وویل، اقلیمي بدلون او وچکالي، په ټولنیز ژوند، سوله، امنیت او مهاجرتونه زیات اغېز لري او دایمي حل له پاره به یې په ګډه تر نړیوالې ټولنې ستاسې پیغام او وړاندیزونه انتقالوم.

هغه زیاته کړه، اقلیمي بدلون یوه نړیواله ستونزه ده او د زیان کچه یې په افغانستان کې زیاته وه، که دې موضوع سره سیاسي برخورد وشي باوري یم چې د افغانستان خلک به د لا ډېرو ستونزو سره مخ شي.

همدارنګه په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د سیاسي او امنیتي معاونت پلاوي میرمن جولین لیني وویل، چې د وزارت کړنې او کار یوه بشري برخه ده او نړیوالې ټولنې ته وایو چې دا موضوع او ستونزه سیاسي نه کړي او په دې برخه کې به ستاسې پیغام د نړیوالې ټولنې سره شریک کړم.

یادو مسؤلینو دغه ناسته د افغانستان او نړیوالې ټولنې ترمنځ د باور رامنځته کولو په برخه کې اغېزمنه وبلله.



## د مهاجرینو چارو وزارت کې د کار کوونکو د ظرفیت لوړونې په موخه د اړتیاوو د ارزونې روزنیز ورکشاپ ترسره شو

د مهاجرینو چارو وزارت کار کوونکو ته د ظرفیت لوړولو په موخه د اړتیاوو ارزونې روزنیز ورکشاپ د زمري په ۱۷مه ترسره شو.

په دغه پروګرام کې چې د ملکي خدماتو انستیتیوت په همکارۍ د دغه وزارت د ناستو په تالار کې جوړ شوی و، د دغه وزارت د بشري سرچینو رئیس مفتي مدیر ګل احمدي د ظرفیت لوړولو او د کار کوونکو په مسلکیتوب په اړه خبرې وکړې ویې ویل، چې کار کوونکي باید لیوالتیا ولري تر څو نوې روزنه زده کړي او مسلکي شي.

هغه په انساني ژوند کې د علم او پوهې د ځای او اهمیت په اړه معلومات ورکړل او له کار کوونکو یې وغوښتل چې له روزنیز ورکشاپ څخه په مینه او علاقه ګټه واخلي.

د دغه پروګرام بل ویناوال د ملکي خدمتونو د انستیتیوت مرستیال عزت الله امان وویل، چې د ملکي خدمتونو د کار کوونکو روزنه او د علمي کچې لوړول د دغه انستیتیوت له لومړیتوبونو څخه دي.

نوموړي ښوونه او روزنه یو مهم اصل وباله ویې ویل، که موږ غواړو چې بدلون راشي باید په ذهن کې بدلون راولو، د نړۍ هېوادونه په دې وتوانېدل ،چې د زده کړو په پیلولو سره خپل ځان په لوړ مقام کې ځای کړي او د مثبتو پرمختګونو له پاره ښوونیزو پروګرامونه په لاره اچول کېږي او لازمه ده، چې له دې څخه اعظمي استفاده وشي.

ورپسې د اړتیاوو ارزونې فورمې ټولو کار کوونکو ته ووېشل شوې، تر څو د دوی اړتیاووې ولیکي او د هغې مطابق روزنیز کورسونه تنظیم شي.



## د کابل په هوایي ډګر کې د مهاجرینو چارو وزارت او د مهاجرت نړیوال سازمان ګډ دفتر بیا ځلې فعاله او په کار یې پیل وکړ

د کابل په هوایي ډګر کې د راستنېدونکو له پاره د مهاجرت نړیوال سازمان او د مهاجرینو چارو وزارت د ګډ دفتر بیا ځلې فعاله او د زمري په ۱۶مه یې په کار پیل وکړ.

یاد دفتر د هغو راستنېدونکو د ثبت او راجستر مسؤلیت په غاړه لري، چې د هوا له لارې هېواد ته راستنېږي دفتر، چې د امریکایي قواوو له وتلو وروسته زیانمن او له فعالیتونو غورځېدلی و، چې د مهاجرینو چارو وزارت په هڅو او د مهاجرت نړیوال سازمان په همکارۍ بیا ځلې فعال او راستنېدونکو ته د خدماتو د وړاندې کولو له پاره چمتو شو.

د حقوقي ملاتړ رئیس الحاج غلام نبي داد خېل، د دایمي حل لارو رئیس مولوي شمال خان مصلح، مالي او اداري رئیس او د ترانسپورت وزارت د ملکي هوانوردۍ انستیتوت رئیس د یادې ودانۍ د ترمیم کار د پټۍ په پرې کولو سره پرانیست.



## د مهاجرینو چارو وزارت او یوې موسسې ترمنځ د همکاریو هوکـــــــــړه لیک لاسلیک شــــــو

د مهاجرینو چارو وزارت او موسسه عمل اجتماعی برای الیتام فقر ترمنځ د ۹ سوزیاتو امریکایي ډالرو په ارزښت د زمري په (۱۹) مه د همکاریو دوه هوکړه لیکونه لاسلیک شول.

د لاسلیک شوو هوکړه لیکونو مالي لګښت ۹ سوه ، ۲۴ زره او ۴۶۱ امریکایي ډالرو دی، چې له مخې به یې په خوست او برابرولو په برخه کې ولګول شي.

یاد هوکړه لیکونه د مهاجرینو چارو وزارت د حقوقي سلاکار او د مسلکي معینیت سرپرست مرستیال مولوي محمود الحق احدي او د یادې موسسې د استازي ترمنځ لاسلیک شول.



## د وزارت د داخلي بېځایه شوو رئیس د ملګرو ملتونو د بشري مرستو د همغږۍ اداري له مرستیال سره لیدنه وکړه

د مهاجرینو چارو وزارت د داخلي بېځایه شوو وضعیت ته د رسېدو رئیس مولوي سردار محمد شېرزاد د ملګرو ملتونو د بشري مرستو د همغږۍ اداري له مرستیال محمد خاطر زید سره د زمري په ۲۵مه په خپل کاري دفتر کې لیدنه وکړه.

د پوهاوي ددې ناستې موخه د داخلي بېځایه شوو د لېږد د څرنګوالي، په راتلونکي کې د مرستو رسولو او په دې برخه کې له دې ادارې سره د همکاریو په اړه د معلوماتو وړاندې کول و.

د داخلي بېځایه شوو وضعیت ته د رسېدو رئیس مولوي سردار محمد شېرزاد د یادې ادارې له دوامداره همکاریو څخه د مننې ترڅنګ وویل، زموږ ګډه دنده د بېځایه شوو د ستونزو هوراول دي او ددې وخت رارسېدلی چې د ټولنې له زیانمنې طبقې سره لا زیاته همکاري وکړو. د مهاجرینو چارو وزارت هڅه کوي، چې په راتلونکي کې د پلان له مخې ټولې زیانمنې شوې کورنۍ خپلو اصلي ولایتونو او ولسوالیو ته ولېږدوي.



مولوي شېرزاد زیاته کړه، د اسلامي امارت په بریا سره د وزارت تګلاره په داخلي بېځایه شوو باندې متمرکزه ده، چې څنګه کولای شو هغوی خپلو اصلي ځایونو ته ولېږو او بشري مرستې ورته برابرې کړو.

هغه زیاته کړه، د اسلامي امارت د مسؤلینو د لارښوونې له مخې د یوشمېر ادارو په همکارۍ ۸ زره کورنۍ له پارکونو څخه خپلو اصلي ځایونو ته لېږل شوي او د زرګونو نورو کورنیو د لېږد پلان هم د وزارت له خوا پلان شوی دی، مګر سېلابونو او د زلزلو پېښو دا پلان اغېزمن کړی.

شېرزاد وویل، د ننګرهار ولایت له اوو کمپونو څخه د بېځایه شوو کسانو د لېږد پلان یې په لاس کې دی او بل لورې ته یې یاده موضوع رښانه کړې.

محمد خاطر زید د مهاجرینو چارو وزارت سره د خپلو همکاریو د څرګندولو پر مهال وویل، د بېځایه شوو اصلي ځایونه ته د ستنېدو لپاره یوې منظمې ستراتېژۍ او تګلارې ته اړتیا ده، خو د هغه پربنسټ خپله همغږي او همکاري زیاته کړو.

## د مهاجرینو چارو وزارت او د ملګرو ملتونو د کډوالو ادارې د تخنیکي کمېټې ګډه ناسته تر سره شــــوه

د مهاجرینو چــارو وزارت او د ملګرو ملتونو د کډوالو ادارې د تخنیکي کمېټې لومړۍ ګډه ناسته د مهاجرینو چارو وزارت کې د زمري په ۳۰مه تر سره شوه.

په دې ناسته کې چې د ملګرو ملتونو دکډوالو ادارې د دفتــرد رئیس لیونارد زولو او ور سره مل پلاو، د وزارت د دفتر د رئیس الحاج قاري محمد اجمل ویاړ، د مرستو د همغږۍ رئیس شیخ عبدالرحمن رحماني او د وزارت د حقوقي ســـــلاکار محمود الحق احدي په ګډون تر سره شوه، چې پکې د مهاجرینو چارو وزارت او یاد دفتر د ۲۰۲۲ کال د هوکړې مطابق دقراردادي کارکوونکو د معاشونو، دغه وزارت ته دنقلیه وسایطو او په انترکانتینتال هوټل کې د ترسره شوو برنامو دلګښتونو د ورکړې په اړه خبرې وشوې.

ښاغلي احدي وویل، د دې ناستې موخه د ستونزو د رک کول او د حل لارې موندل، په تېر کال کې د ترسره شوو کارونو ارزونه او مثبتې پایلې ته رسېدل دي، چې د یوبل سره په هوکړې باید یوې مطلوبې پایلې ته ورسېږو او د راتلونکې لپاره لاسته را وړنې ولرو.

د یاد دفتر رئیس ښاغلي لیونارد زولو وویل، ددې ادارې او د مهاجرینو وزارت موخه یوه ده، چې هغه مستحقینو ته د خدماتو وړاندې کول دي او د موجوده ستونزو سربېره بیا هم دواړه ادارو په مرکز او ولایتونو کې خپل فعالیتونه په ښه شان تر سره کړي.

هغه زیاته کړه مطرح شوې موضوعات به مرکزي دفتر سره شریکوي او د مطرح شوو غوښتنو په مورد به د عالي کمیشنر سره خبرې وکړي.

د مرستو د همغږۍ رئیس شیخ عبدالرحمن رحماني هم خبرې وکړې ویې ویل، د ملګرو ملتونو د کډوالو له عالي کمېشنرۍ او نړۍ سره زموږ اړیکې د انسانیت او انسان دوستۍ پر بنسټ ولاړې دي او د مهاجرینو چارو وزارت د کډوالو د عالي کمېشنرۍ د ژمنو د عملي کېدو غوښتونکی دی.

همدارنګه د وزارت د دفتر رئیس قاري محمد اجمل ویاړ په خپلو خبرو کې د یاد دفتر د ژمنو د عملي کېدو غوښتونکی شوا و دمقابل لورې یې غوښتنه وکړه چې په دې برخه کې دې جدي پاملرنه وکړي.

ښاغلي زولو د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو له وزارت سره د دغې ادارې د همکارۍ او همغږۍ ډاډ ورکړ.



## د وزارت د دوو اعلان شویو بستونو تقریري ازموینه واخیستل شوه

د مهاجرینو ښارګوټو د څارنې د مسلکي غړي ترعنوان لاندې د پروان، کاپیسا ، بامیان او میدان وردګو ولایتونو د څلورم بست او د انجینري خدمتونو د دوو څلورم بستونو تقریري ازموینه د دوشنبې د ورځې په ۸ مه او ۱۳ مه د وزارت د بشري سرچینو ریاست کې واخیستل شوه.

د دغه بست ګډونوالو، چې شمېر يې ۲۸ تنو ته رسېده، یوه ورځ مخکې يې د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو په کمېسون کې بریښنايي ازموینه ورکړې وه او تقریري ازموینه یې د مهاجرینو چارو وزارت د حقوقي سلاکار مولوي محمود الحق احدي د ښارګوټو دخدمتونو، ارشاد او دعوت او بشري سرچینو ریاست د رئیس په شتون کې ترسره شوه.

د بشري سرچینو رئیس مفتي مدیرګل احمدي د یادې تقریري ازموینې په رونتیا تېنګار وکړ ويې ویل، چې د تقریري ازموینې د پروسې د پای وروسته به هر یو یادو ولایتونو ته چې یو کس او څلور نور به په مرکز کې د ښارګوټو د خدمتونو ریاست ته ور وپېژندل شي.



## د مهـــــــاجرینو چارو وزارت د بنه حساب ورکونې له امله وســــــتایل شـــــــو

ملت ته د حساب ورکونې پروګرام په اختتامیه غونډه کې د ورځې په ۱۲ مه د ریاست الوزراء د دفتر ریاست له لورې د نورو امارتي ادارو ترڅنګ د مهاجرینو اوراستنېدونکو چارو وزارت هم د ښه حساب ورکونې له امله تقدیر او وستایل شو.

په غونډه کې د مهاجرینو چارو وزارت له رهبري پلاوي، رئیسانو او د ویاند له دفتر څخه په یاد پروګرام کې د فعاله ونډه اخستنې، ملت ته په بریالیتوب سره د حساب ورکونې او د اطلاع رسونې بهیر د پیاوړتیا قدرداني او مننه وشوه.

د دغه وزارت د راستنېدونکو، داخلي بېځایه شوو، او نورو فعالیتونو او لاسته راوړنو په اړه د خپلو دندو او خدمتونو په اړه راپور وړاندې کولو او د ترسره شوو خدمتونو د ستاینې په ترڅ کې هغه ستاینلیک چې د ریاست الوزرا او د دفتر د رئیس او د حکومت د رسنیو د رئیس له لورې لاسلیک شوی و د دغه وزارت د اطلاعاتو او عامه اړیکو رئیس ته ورکړل شو.




## ننګرهار کې مسؤولینو د کمپونو سروې او په اړه یې د پرېکړې نیولو په موخه مشورتي ناسته تر سره کړه

د ننګرهارولایت د مهاجرینو د کمپونو په اړه د هراړخیزې سروې او بیا کتنې په موخه د ورځې په ۱۴مه مشورتي ناسته د یوشمېر ادارو د رئیسانو او مرستندویه بنسټونو له استازو په شتون کې ترسره شوه.

په یاده ناسته کې، چې د ننګرهار ولایت د مرستیال والي، د کرنې، اوبو لګونې او مالدارۍ وزارت مالي او اداري مرستیال، د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت د داخلي بېځایه شویو چارو رئیس مولوي سردار شېرزاد او د قومونو او قبایلو چارو وزارت د کوچیانو چارو رئیس او د ننګرهار ولایت د یوشمېر دولتي ادارو او همکارو مؤسسو د استازو په ګډون ترسره شوه، پکې کابل، تګاب او فارم هډې کمپونو هر اړخیزې سروې او په اړه یې د پرېکړې نیولو خبرې وشوې.

د ننګرهار مرستیال والي مولوي سعید احمد بنوري وویل، چې په ننګرهار کې د ګڼ شمېر ولایتونو داخلي بېځایه شوي کورنۍ په دولتي ځمکو کې ژوند کوي، چې مرکز یې د سرنویشت ټاکلو په موخه پلان لري او په دې برخه کې یې د مرستندویه ادارو څخه د همکارۍ غوښتنه وکړه.

د کرنې وزارت مالي او اداري مرستیال مولوي فضل الباري فضلي او د کډوالو چارو وزارت د داخلي بېځایه شویو چارو رئیس مولوي سردار شېرزاد وویل، چې دوی د ځلورو کمپونو شیخ مصري، کابل، تګاب او فارم هډې کمپونو د کورنیو او وګړو د شمېر او امکاناتو په اړه سروې کوي، چې معلومات به یې مرکز سره شریک او وروسته به لازمه پرېکړه تر سره شي.

دوی له مرستندویه ادارو له مسؤولینو وغوښتل، چې سروې، او د یادو کمپونو په اړه د پرېکړې پر مهال ور سره لازمه همکاري وکړي.

د مؤسسو استازو په خپلو خبرو کې وویل، چې دوی به یاده موضوع خپلو مرکزي دفترونو سره شریکه کړي، چې د ۱.۱ پرېکړې سره سم به د خپلو امکاناتو له مخې همکاري وکړي.

دوی همدا راز سروې او نورو بېلابېلو برخو کې د چمتووالي ډاډ وښوده همدا راز یې وضعیت ته په کتنې د تخلیې، مېشته کېدنې او انتقال په اړه خپل نظرونه او وړاندیزونه شریک کړل.



## د مرستو د همغږۍ رئیس، موسسو سره د لاسلیک شوو هوکړه لیکونو د پلي کېدو د څارنې په موخه هرات ولایت ته سفر وکړ

د مرستو د همغږۍ رئیس شیخ عبدالرحمن رحماني هرات ولایت ته د خپل سفر په ترڅ کې د دغه ولایت د مهاجرینو چارو ریاست څخه لیدنه وکړه او د موسسو سره د لاسلیک شوو هوکړه لیکونو د پلي کېدو د څارنې ترڅنګ یې ۹۵ کورنیو سره د نغدي مرستو د وېش برنامه کې ګډون وکړ.

یادو کسانو هریوه ته یې د ان آر سي موسسې له مالي مرستې ۳۰۰ امریکایي ډالره ورکړل شول.



## د مهاجرینو چارو وزارت او د بېځایه شوو د کمپونو د تنظیم کاري ډلې ګډه ناسته ترسره شوه

د مهاجرینو چارو وزارت د بېځایه شوو دایمي حل لارو او د کمپونو د تنظیم کاري ډلې ګډه ناسته، چې څو مؤسسې پکې شاملې دي د وږي په ۲۲ مه په وزارت کې ترسره کړه.

په دې ناسته کې چې د پلان او پالیسۍ د رئیس مولوي محمود الحق احدي، د داخلي بېځایه شوو وضعیت ته د رسېدو رئیس مولوي سردار شېرزاد، د ملل متحد د بشري مرستو د همغږۍ مؤسسې مرستیال محمد خاطر زید، د ملګرو ملتونو د کډوالو اداري د کلستر د همغږۍ او کاري ګروپ مسؤل ښاغلي ونسن دیوپن، دناروې ټولنې مسؤل عابد همت او د ملل متحد د بیا یوځای کېدو د پروګرام دفتر مسؤل عبدالدیان راسخ په ګډون ترسره شوه ،چې پکې د حالاتو د څېړنې، د سروې د پلان د جزیاتو او د بېځایه شوو د پېژندنې په اړه خبرې وشوې.

ښاغلي ونسن وویل، د بېځایه شوو د وضعیت د ښه درک کولو له پاره اړینه ده، چې یوه ستراتېژي جوړه کړو او ګډې موخې وټاکو، چې په دې سره موږ کولای شو، چې په همغږۍ

او ګډ کار سره له بېځايه شوو څخه ملاتړ او هغوی ته رسيدګي وکړو.

هغه زياته کړه، د کورنيو بېځايه کېدل ستونزې رامنځته کوي او موږ د کابل د مهاجرينو چارو رياست سره هوکړه کړې، چې د بېځايه شوو کمپونه سروې او د کورنيو شمېر او غړي يې مشخص کړو، ترڅو وکولای شو، چې د مرستو او همکاريو پلانونو پلي کړو.

د پلان او پالېسۍ رئيس محمود الحق احدي وويل، د وزارت او اسلامي امارت موخه داده، چې ټول بېځايه شوي په عزت او خوندي توګه خپلو اصلي سيموته او ياهم نورو مناسبو ځايونو ته ولېږل شي ترڅو هغوی ته د سرپناه د جوړولو زمينه برابره شي.

هغه په دې برخه کې د همکاريو د ترسره کېدو مننه وکړه او دا يې اړينه وبلله، چې د وضعيت تحليل او پاليسي يې له دولتي چارواکو سره شريکې کړي او پرګډ کار يې ټينګار وکړ.

د ملګرو ملتونو د بشري مرستو د همغږۍ د دفتر مرستيال محمد خاطر زيد وويل، چې لومړی به يو ابتدايي او معلوماتي سروې ترسره شي او ددې کار له پاره به له اړوندو څانګه سره په همغږۍ او هوکړې يوه تخنيکي کمېټه جوړه شي، څو فعاليتونه په همغږۍ او همکارۍ ترسره شي.

همدارنګه د وزارت د داخلي بېځايه شوو وضعيت ته د رسېدو رئيس سردار شېرزاد په دې ناسته کې وويل، چې د وزارت موخه بېځايه شوو ته د بشري خدمتونو او مرستو په رسولو کې د همغږيو رامنځ ته کول دي او موږ په دې برخه کې د همغږيو او همکاريو ډاډ ورکوو او هڅه کوو، چې د دولت او بنسټونو په ملاتړ بېځايه شوي د سرپنا، ښوونيزو او روغتيايي خدماتو څخه برخمن کړو.

شېرزاد وويل، چې په کابل کې د بېځايه شوو کسانو د سروې په پروګرام کې بايد اړتياوې په پام کې ونيول شي او

او بايد وويل شي، چې د وزارت امکانات محدود او ستاسې ګډو فعاليتونو او همکاريو ته اړتيا لري.

هغه زياته کړه، زموږ اصلي موخه ګډه ناسته او ګډ کار دی، موږ به په راتلونکي کې خپل پلانونه له تاسې سره شريک کړو.

په پای کې بناغلي احدي وويل، هيله ده، چې زموږ ستراتيژيکې موخې په ياد ولرئ، د خپلو فعاليتونو پيل، سيمه او د همکاريو څرنګوالی د مهاجرينو چارو زوارت سره شريک کړئ، ترڅو د وزارت مشر تابه له پرېکړې وروسته په دې اړه په راتلونکې ناستې کې خبرې او وروستۍ پرېکړه وشي.



## د حقوقي ملاتړ رئيس د مهاجرت د نړيوال سازمان مرستو ته د لاس رسي مسؤول سره وکتل

د مهاجرينو چارو وزارت د حقوقي ملاتړ رئيس الحاج غلام نبي الله دادخېل ستانکزي د خپل کار په دفتر کې ښاغلي عدنان بغجي سره چې په افغانستان کې د مهاجرت د نړيوال سازمان بشري مرستو ته د لاسرسي مسؤول دی، وليدل.

په دې کتنه کې هغوی د راستنېدونکو له پاره د پيسو د زياتوالي او هغوی ته د لازياتو خدمتونو د وړاندې کولو په اړه خبرې وکړې او د دغې ادارې د همکاريو د قدرداني په ترڅ کې ښاغلي ستانکزي د راستنېدونکو له پاره د خدمتونو د کيفيت او کميت په لوړولو ټينګار وکړ.

عدنان د ستانکزي د خبرو په تائيد سره وويل: چې د مهاجرت د نړيوال سازمان هدف د راستنېدونکو له پاره د خدمتونو د کيفيت لوړول دي او په دې برخه کې به تل ژمن پاتې شو.

دغه راز په راتلونکي کې د راستنېدونکو له پاره د روغتيايي خدمتونو د وړاندې کولو، د کار د زمينې برابرولو او د دغې اداري د ژمنيو مرستو د پروګرامونو يادونه وکړه.



## د مهاجرينو چارو وزارت اړوند د دوو اعلان شويو بستونو تقريري ازموينه واخيستل شـــــــوه

د بغــــلان اولغمان ولايتونو مهاجرينو رياستونو د ښارګوټو د څارنې د مسلکي غړي د دوو څلورم بستونو تقريري ازموينه د وږي په ۲۸ مه د وزارت د بشري سرچينو رياست کې واخيستل شوه.

د دغه بست ګډونوالو، چې شمېر يې ۶ تنو ته رسېده، د وږي په ۱۲مه يې د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو په کمېسون کې بريښنايي ازموينه ورکړې وه.

د وزرات د بشري سرچينو رئيس د ازموينې ګډونوالو ته وويل، دغه وزارت هڅه کوي، چې په خپلو خالي بستونو کې وړ او په کار پوهه کسانو ته د کار زمينه برابره کړي او بې له شکه چې په ازموينه کې بريالي کسان به جذب شي.

هغه وويل، چې د دې ازموينې په پايله کې به دوه په کار پوهه مسلکي او روزل شوي کسان، چې نومرې يې لوړې وې مقرر شي.



## د ۱۴۰۲ کال د دويمې ربع په اوږدو کې د حقوقي ملاتړ رياست کار او فعــــــــــــاليتونه

د حقوقي ملاتړ رياست د روان کال د دويمې ربعې په دريو مياشتو کې د مهاجرينو او داخلي بېځايه شوو له پاره د خدمتونو د وړاندې کولو په موخه لاندې فعاليتونه ترسره کړي دي

- د ملي او نړيوالو سازمانونو له خوا د لېږل شوو ۸۱ هوکړه ليکونو د مسودې په اړه د نظرونو څرګندول.
- د مرستو د همغږۍ رياست د غير دولتي مؤسسو د همغږۍ او څارنې د کړنلارې د بيا کتنې څرګندول.
- د دوامداره بيا يوځای کېدو په اړه د ولايتي کمېټې د دندو په اړه د قانون څېړنه او تبصره.
- د افغانستان اسلامي امارت د بري پرمهال د کورنيو چارو محترم وزارت له لورې د مطرح شووو څېړنو او د نظرياتو شريکول.
- د عامې روغتيا له محترم وزارت سره د روغتيا په برخه کې د راستنېدونکو او داخلي بېځايه شوو د ستونزو د حل په موخه د هوکړه ليک لاسليک او په ولايتونو کې د مهاجرينو چارو رياستونو له لورې د يادو هوکړه ليکونو پلي کول.
- په بېلابېلو برخو کې د راستنېدونکو او داخلي بېځايه شوو د اقتصادي ستونزو د حل په موخه د مهاجرينو چارو وزارت او اقتصاد وزارت ترمنځ د همکاريو هوکړه ليکونه لاسليک شول او د مهاجرينوچارو وزارت د دويمي واحدونو ته يې د پلي کېدو په موخه په رسمي ډول خبر ورکړل شوو.
- د راستنېدونکو او داخلي بېځايه شوو د نمرو د وېش د قانوني طرحې برابرول او د راستنېدونکو د بيا يوځای کېدو رياست سره همغږۍ د پناه غوښتنې د قانون مسوده او د وزارت د دندو د تنظيم د پرلپسې ناستو په ترڅ کې د وروستو کړنو په موخه رسماً د عدلي وزارت ته ولېږل شوه.
- راستنېدونکو او داخلي بېځايه شوو ته د خدمتونو د وړاندې کولو په اړه د ښار جوړونې وزارت او ښاري خدماتو رياست ترمنځ د هوکړه ليک د اسنادو اجراات او د پلي کولو په موخه يې اړوندو مرجع ته لېږل.

• د ترانسپورت وزارت سره په هوکړې او همکارۍ له ترکیې څخه د راستنېدونکو افغان مهاجرینو د ستونزو د حل په موخه د یاد هوکړه لیک اجراات او د پلي کولو په موخه یې اړوندي مرجع ته لیږل.

• د وزارت مقام د دفتر رئیس سره په هوکړې د وزارت د کار کوونو د کاري اړیکو د کړنلارې ترتیبول.

• ترکیې ته د لیږل شوي ټیم د راپور له پربکړې سره سم له ترکیې سره د مهاجرت د کړنلارې د مسودې ترتیب او په کابل کې د ترکیې له سفارت سره د یادې موضوع شریکول.

• بهرنیو هېوادونو ته د وزارت د کارکوونکو د رسمي سفرونو په اړه د نوو کړنلارو ترتیب.

• په کوربه هېوادونو کې مېشتو افغان مهاجرو ته د ملي او نړیوالو بنسټونو د مرستو د ترلاسه کولو د کړنلارې ترتیب او په بهرنیو هېوادونو کې د مهاجرینو چارو د اتشو له استازو سره د کړنلارې د مسایلو شریکول.

• راستنېدونکو او داخلي بېځایه شوو ته د خدمتونو د وړاندې کولو په اړه د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت، د کار او ټولنیزو چارو وزارت د کلیو او پراختیا وزارت ترمنځ د همکاریو د مسودې ترتیب او د هغه لیږل.

• جلالتمآب امیر المومنین د ۹ګڼې فرمان له مخې د پناه غوښتنې د قانون د فقهي تخریج د بیا کتنې له پاره یوه کمېټه جوړه شوې، چې د یاد قانون د ۳۲ مادو له جملې څخه ۲۱ مادې په فقهي توګه څېړل شوې او په پاتې ۱۱ مادو باندې یې کار روان دی.

• د مسلکي معینیت په مشرۍ د حقوقي ملاتړ او د پلان او پالیسۍ ریاستونو د پرلپسې ناستو په پایله کې په خپله خوښه راستنېدو ته د هڅول، ترڅو د افغان مهاجرینو ستونزو د حل په موخه د ایران او پاکستان له استازو سره درې اړخیزو او څلور اړخیزو ناستو زمینه برابره شي، خو د ملګرو ملتونو د کډوالو ادارې د نه همکارۍ له امله دناستو زمینه برابره نه شوه.

• په هوایي ډګر کې د وزارت او د مهاجرت نړیوال سازمان د خدمتونو د وړاندې کولو ګډ دفتر چې غیر فعال و، د دغې ادارې له مسؤلینو سره د ډېرو هلو ځلو او ناستو په پایله کې بیا ځلې فعاله شو.

د ویلوده، چې د کابل په نړیوال هوايي ډګر کې د کار له پیله سره به یوه ګډه کړنلاره جوړه شي، چې په هوايي ډګر کې به د مهاجرت په برخه کې د همکار دفتر سره نهايي شي.

د حقوقي ملاتړ په برخه کې:

۶۸۳ تنه راستنېدونکي د زده کړو د دوام په موخه د پوهنې وزارت عمومي زده کړو ریاست ته ور پېژندل شوي.

۱۲ تنه راستنېدونکي د تحصلي اسنادو د نوم د اصلاح له پاره د ثانوي زده کړو ریاست ته ور پېژندل شوي.

۳ تنه راستنېدونکي د زده کړو د دوام په موخه د لوړو زده کړو وزارت ته ور پېژندل شوي.

۳ تنه راستبدونکي د فورم د اصلاح په موخه د ملګرو ملتونو د کډوالو ادارت ته ور پېژندل شوي او له دې سربېره ۵۲۰ تنو راستنېدونکو ته حقوقي مشورې ورکول شوې او ۷۰۱ تنه راستنېدونکي په ډیټابیس کې ثبت شوي.

## د ۱۴۰۲ کال د دویمې ربع په اوږدو کې د څارنې او ارزونې ریاست فعالیتونه

د پلان له مخې د دویمې واحدونو د فعالیتونو د څارنې په موخه د دې ریاست د څارنې ټیمونه هرات، فراه، غزنې، میدان وردګو او لوګر ولایتونو ته تللي او د یادو ادارو کړنې یې ارزولې.

یاد پلاوي د څارنې د میکانیزم او د راپور ورکولو فورمې د دویمې واحدونو مسؤلینو ته د اسلام قلعه په شمول په بېلابېلو برخو کې د مؤسسو او د مهاجرینو چارو وزارت د دویمې واحدونو ترمنځ د رامنځته شوې ستونزې توضیح او هغه یې و ارزولې او د چارو د لاښه والي په موخه یې ورته لازمې مشورې او لار ښوونې ورکړې.



## په ولایتونو کې د خـــــــدماتو وړاندې کـــــول

## سمنګان کې ۱۸ زره او ۱۶۶ کورنیو سره مرستې شــوي

په سمنګان ولایت کې ۱۸ زره او ۱۶۶ کورنیو سره د ملګرو ملتونو د کډوالو ادارې، آغاخان خیریه بنسټ، اکشن ایډ، د ماشوم ساتنې د ملاتړ صندوق او ان،آر، سي مؤسسې په مالي مـــــرسته د نغدي پیسو، د لمریزې برېښنا د تختو او شېدو لرونکو وزو مرستې شوي.

هرې سروې شوې کورنۍ ته په بېلابېلو کټګوریو کې ۳ زره او ۹۰۰، ۱۲ زره او ۷۲۰، ۲۲ زره او ۶۰۰ ، ۲۱ زره او ۵۰۰ افغان، د کور د ترمیم وسایل، دوه ۲۰۰ امپیره د لمریزې برېښنا تختې،دوه ۲۰۰ واټه بطري سره د وسایلو او ۲۰۰ کورنیو ته درې درې شېدې لرونکې وزې وېشل شوي دي.





## بلخ کې یو زرو او ۱۴۹ کورنیو سره مرستې شوي

د صراط الجنته خیریه بنسټ، د مهاجرت نړیوال سازمان، ناروې د کډوالو ادارې، المصطفی خیریه بنسټ او، ناروې د مهاجرینو ټولنې او د پکو مؤسسې په مالي مرسته د بلخ ولایت د مهاجرینو چارو ریاست په همکارۍ یوپه دغه ولایت کې یو زرو او ۱۴۹ کورنیو سره د نغدي پیسو، خوراکي او غیر خوراکي توکو، د ګنډلود حرفوي وسایلو، سلمانۍ او د وړیو د اوبدلو د ماشین مرستې شوي.



یادو کورنیو هرې کورنۍ ته ۱۳ قلمه خوراکي او غیر خوراکي توکي او په بېلابېلو کټګوریو کې ۳۹ زره او ۴۰۰، ۳۰ زره او ۴۰۰، ۲۱ زره او ۴۰۰، ۲۵ زره او ۴۰۰، ۲۴ زره او ۷۰۰، ۲۷ زره او ۶۰۰، ۱۲ زره او ۴۰۰، ۷ زره او ۵۰۰ او ۲ زره او ۱۰۰ افغانۍ او د ګنډلو د حرفوي وسایل، سلمانۍ، د وړیو د اوبدلو ماشین، شانه، او ۵ کیلو پنبه د فردوسي، قالین بافان، عمر فاروق او معاذ ابن جبل د مهاجرینو ښارګوټو کې هغو کورنیو ته وېشل شوي، چې د بلخ ولایت د مهاجرینو چارو ریاست له لورې سروې شوې وې.

د یوبل خبر له مخې د دولت آباد ولسوالۍ د کوترمه او نغاره خانه سیمو کې د ډنمارک د مهاجرینو ټولنې په مالي لګښت د زمري په ۱۵مه د کانال د پاکارۍ کار شروع شوی.

په یاده پروژه کې ۱۵۰ تنه په کار ګومارل شوي، چې اکثره یې راستنېدونکي او بېځایه شوي دي، چې مخکې د مهاجرینو چارو ریاست او د ذکر شوې ټولنې د ګډ ټیم له لورې سروې شوي وو، چې هر تن ته د ورځې د کار په مقابل کې ۵۰۰ افغانۍ ورکول کېږي.



## د بلخ ولایت د مهاجرینوچارو رئیس د ملګرو ملتونو د کډوالو ادارې د شمالي زون له رئیسې سره لیدنه وکړه

د بلخ ولایت د مهاجرینو چارو رئیس مولوي اسد الله وفا د ملګرو ملتونو د کډوالو ادارې د شمالي زون له رئیسې میرمن لاچین حسنوا سره د زمري په ۲۵مه په خپل کاري دفتر کې لیدنه وکړه.

اغلې لاچین حسنوا وویل، چې د سفر موخه یې په دغه ولایت کې ۴۰ بېځایه شوو او راستنېدونکو کورنیو لپاره د سرپناه جوړول

او د قالین بافانو د مهاجرینو ښارګوټي کې د قالینو د پروسس د دوهم فاز د کار پیلول دي.

د مهاجرینو چارو رئیس د یادې ادارې د مرستو او همېشنۍ همکاریو څخه د مننې ترڅنګ د یادو شوو پروګرامونو ستاینه وکړه ویې ویل، چې د غالیو د پروسس او د سرپناه د جوړولو پروګرام د مظلومو خلکو لپاره یو ډېر اغېزمن او ستر ګام دی او له هغې یې وغوښتل، چې خپلې برنامې دې نورو ولسوالیو ته هم وغځوي.



## سرپل کې یو زرو ۷۰۸ کورنیو سره مرستې شوي

په سرپل ولایت کې یو زرو او ۷۰۸ کورنیو سره د ملګرو ملتونو د کډوالو ادارې او د مهاجرت نړیوال سازمان په مالي مرسته مرستې شوي.

په یادو کورنیو کې بېځایه شوې، زیانمنې شوې او اړمنې کورنۍ شاملې وې، چې د مهاجرینو چارو آمریت له لورې په بلخاب، سنچارک، ګوسفندي او کوهستانات ولسوالیو کې سروې او د مرستو له پاره مستحقې په نښه شوې وې چې هرې کورنۍ ته په بېلابېلو کتګوریو کې ۶۱ زره او ۸۰۰، ۶۵ زره او ۳۰۰، ۲۲ زره او ۶۰۰، ۲۷ زره او ۵۰۰، ۷۹ زره او ۴۵۰، ۶۱ زره او ۸۰۰ او ۹۸ زره افغانۍ او یوه یو روغتیایي کڅوړه، چې پکې لس قلمه روغتیایي مواد شامل ول د مهاجرینو چارو آمریت ترڅارنې لاندې وېشل شوي دي.



## په ختیځ زون کې د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام مسؤل د یوشمېر پروژو د پیل ژمنه وکړه

د ننګرهار ولایت د مهاجرینو چارو ریاست د معلوماتو له مخې، د دغه ولایت مرستیال والي مولوي سعید احمد بنوري د زمري په ۳مه د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام د ختیځ زون له رئیس ښاغلي اناتولي بالینوف سره یې په خپل کاري دفتر کې لیدنه کړې.

د دې ناستې موخه په هغه ولایت کې د بیا رغونې د کارونو پیلول وو او له بالینوف څخه وغوښتل شول، چې د شیخ مصري او چمتال رسمي کمپونو د بېځایه شوو له پاره د سرپناه د جوړولو او په غیر رسمي کمپونو کې له راستنېدونکو کورنیو سره د بیا رغونې، د ویجاړو شوو کورونو د بیا جوړولو، فرعي سرکونو جوړولو، استنادي دیوالونو، سربندونو، کانالونو او روغتیایي مرکزونو د شنیوارو په زونونو او یوشمېر ولسوالیو کې جوړشي، چې مقابل لوري د یوشمېر د پروژو د پیل ژمنه وکړه.

په دې لیدنه کې د اقتصاد، پوهنې، کرنې، ټولګټو او مهاجرینو چارو رئیسانو شتون درلود.



د یوبل خبر له مخې ۸۷۱ راستنېدونکو او اړمنو او ۱۲۳ تنه ډیپپورت شوو کورنیو سره د ډنمارک د مهاجرینو ټولنې، ناروې د مهاجرینو ټولنې او د ژوغورنې نړیوالې کمېټې په مالي مرسته د روغتیایي کڅوړو، نغدي پیسو او خوراکي توکو مرستې شوي.

یادې کورنۍ چې مخکې د مهاجرینو چارو ریاست له لورې سروې او د مرستو له پاره مستحقې په نښه شوې وې هرې کورنۍ ته د اړتیاوو په نظر کې نیولو سره په بېلابېلو کټګوریو کې ۲۷ زره، ۲۱ زره، ۲۴زره، ۲۲ زره، ۲۵زره، ۲۰ زره، ۲۶ زره، ۲۳ زره، ۲۴ زره او ۵۰۰، ۲۱ زره او ۵۰۰، ۲۵ زره او ۵۰۰، ۲۳ زره او ۵۰۰، ۱۲ زره، ۱۴ زره او ۱۰ زره افغانۍ نغدې،۴ قلمه خوراکي توکي او ۹ قلمه روغتیایي مواد د جلال آباد ښار او سرخرود، بهسود، مهندرې او کامې ولسوالیو او تورخم کې وېشل شوي دي.



د یو بل خبر له مخې د ننګرهار ولایت د چمتلې د مهاجرینو ښارګوټي د سرکونو د هوارولو کار د ملګرو ملتونو د کډوالو اداري په مالي مرسته د مهاجرینو چارو ریاست تر څارنې لاندې شروع شو، چې پکې ۱۴۴ تنو ته د کار زمینه برابره شوه، چې اکثره یې راستنېدونکي او بېځایه شوي دي، چې هر کارګر ته د پروژې په پای کې د ۲۶ ورځو کار په مقابل کې ۱۵۰ امریکایي ډالره ورکول کېږي.



## د ایران او پاکستان څخه څلور اویا زره او ۸۷۱ تنه افغـــــــان مهاجر هېواد ته راستانه شـــوي

د روان کال په تېرو دربو میاشتو کې د هرات ولایت د اسلام قلعه، قندهار ولایت د سپین بولدک او د ننګرهار ولایت د تورخم له لارې څلور اویازره او ۸۷۱ تنه افغان مهاجر د پاکستان او ایران څخه هېواد ته راستانه شوي دي.

د هرات ولایت د اسلام قلعه د مهاجرینو چارو د آمر په خبره د ۷۰۰۴۶ تنه راستنېدونکو افغانانو له ډلې یې ۲۳ زره او ۳۵۴ تنه د مرستو د ترلاسه کولو په موخه د مهاجرت نړیوال سازمان ته ور پېژندل شوي، چې ورسره د خوراکي توکو او روغتیایي کڅوړو مرستې شوي دي.

همدرانګه د قندهار ولایت د سپین بولدک له لارې د څلور زره او ۱۲۸ تنه افغان مهاجر له ډلې ۷۵ تنه مجردین او ۱۲۴۱ تنه په خپله خوښه او ۶۹۱ تنه د ننګرهار ولایت د تورخم له لارې هېواد ته راستانه شوي دي.

سرچینې زیاتوي چې یادو کسانو سره د راستنېدو څخه وروسته د یوشمېر خیریه مؤسسو له لورې یې درملنه شوې او لازمې مرستې ورسره ترسره شوي دي.







## هرات کې یو زرو او ۱۳۹ کورنیو سره نغدي مرستې وشوې

هرات کې یو زرو او ۱۳۹کورنیو سره د ډنمارک د مهاجرینو ټولنې، ان، آرسي، کوردایډ او ناروې د مهاجرینو ټولنې په مالي مرسته مرستې ترسره شوي دي.

یادې کورنۍ، چې مخکې د مهاجرینو چارو ریاست له لورې په ګذره، انجیل، غوریان، کشک او رباط سنګي ولسوالیو او مرکز شاوخوا سیمو کې سروې او د مرستو له پاره مستحقې په نښه شوې وې هرې کورنۍ ته په بېلابېلو کټګوریو کې ۱۵ زره، ۱۶ زره،۱۷ زره، ۱۳ زره، ۳۲، زره، ۴۷، زره، ۱۴زره افغانۍ او ۳۰۰ امریکایي ډالره وېشل شوي دي.



## هرات کې د راستنېدونکو او بېځایه شوو ستونزو ته د لاسرسي په موخه ناسته ترسره شوه

په هرات ولایت کې د مهاجرینو چارو وزارت د مرستو د همغږۍ د رئیس په مشرۍ د راستنېدونکو او بېځایه شوو ستونزو ته د لاسرسي په موخه د وږي په ۱۸مه ناسته ترسره شوه.

په یاده ناسته کې، چې د ولایت مقام او ۱۵ مرستندویه بنسټونو د استازو په ګډون ترسره شوې وه، د مرستو د همغږۍ رئیس ټینګار وکړ، چې مؤسسې باید د مهاجرینو چارو وزوارت د د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې مرستې ترسره کړي او بغیر د هوکړې نه شي کولی چې فعالیتونو ترسره کړي.

همدارنګه په ناسته کې په دغه ولایت کې د مهاجرینو پر وضعیت خبرې وشوې او ګډونوالو خپلو نظرونه وړاندې کړل.

د یادې ناستې ګډونوالو ژمنه وکړه، چې په هرات ولایت کې به د راستنېدونکو او بېځایه شوو د وضعیت د ښه والي په برخه کې د دغه ولایت د مهاجرینو چارو ریاست سره همکاري کوي.



## پکتیکا کې پنځه زره او ۸۵ کورنیو سره مرستې شوې

د ملګرو ملتونو د کډوالو اداري او د موسسه عمل اجتماعي باری التیام فقر مؤسسې په مالي مرسته د پکتیکا ولایت د مهاجرینو چارو ریاست له لارې په دغه ولایت کې پنځه زره او یادي کورنی، چې مخکې د پکتیکا ولایت د مهاجرینو چارو ریاست له لوري سروې او د مرستو له پاره مستحقې په نښه شوې وې هرې کورنۍ ته ۴ قلمه خوراکي توکي او ۲۲ زره او ۶۰۰ افغانۍ نغدې وېشل شوي دي.



## بامیانو کې پنځه زره او ۹۲۸ کورنیو سره مرستې شوي

د اسلامیک ریلیف، د ملګرو ملتونو د کډوالو اداري او د قریه صلح برای افغانها اداري په مالي مرسته د بامیانو ولایت د مهاجرینو چارو آمریت له لارې ۵ زره او ۹۲۸ کورنیو سره د نغدي پیسو، ۴ قلمه خوراکي توکو، د قربانۍ د غوښو او د لمریزې برېښنا د تختو مرستې شوي دي.

چې له ډلې یې درې زره او ۷۴۰ کورنیو ته ۵ کیلو د قربانۍ غوښه او یو زرو او ۹۳ کورنیو ته ۱۴۴ امریکایي ډالره او پاتې نورو ته یې څلور قلمه خوراکي توکي، روغتیایي کڅوړې او دوه د لمریزې برېښنا ۳۰۰ واټه تختې او دوه ۲۰۰ امپیره بطرۍ سره د وسایلو وېشل شوي دي.



## جوزجان کې درې زره او ۹۴ کورنیو سره مرستې شوي

په جوزجان ولایت کې درې زره او ۹۴ زیانمنو شوو کورنیو سره د ملګرو ملتونو د کډوالو ادارې، مهاجرت نړیوال سازمان، او نصرت السنان خیریه بنسټ له مالي مرسته د نغدي پیسو، خوراکي توکو او روغتیایي کڅوړو مرستې ترسره شوي دي.

یادې کورنۍ، چې مخکې د مهاجرینو چارو ریاست له لورې په درزآب ولسوالۍ کې سروې او د مرستو له پاره مستحقې په نښه شوې وې په بېلابېلو کټګوریو کې هرې کورنۍ ته ۹۸ زره، ۲۹ زره او ۱۵۰، ۶۱ زره او ۸۰۰، ۲۲ زره او ۸۰۰ او ۲۷ زره او ۵۰۰ افغانۍ او ۶ قلمه خوراکي توکې وېشل شوي دي.

د ویلوده، چې یادو کورنیو سره مخکې هم په لومړي قسط کې نغدي مرستې ترسره شوي دي.




## جوزجان کې د ۸ کیلو متره سرک د جغل اچولو کار پیل شو

د جوزجان ولایت د مهاجرینو چارو ریاست د وږي په ۵ مه په دغه ولایت کې د ملګرو ملتونو د کډوالو ادارې په همکارۍ په مردیان ولسوالۍ کې د ۸ کیلو متره سرک د جغل اچول د پیل خبر ورکړ.

د یاد سرک د جغل اچولو د پروژې چارې د والي، سیمه ییزو ادارو د استازو، د مرصل دراني ساختماني شرکت د استازي او د چلیک کول او یازخان د سیمې د اوسېدونکو په شتون کې پیل شو.

د دغه ولایت د مهاجرینو چارو د رئیس په خبره یاد سرک ۸ کیلومتره اوږد والی، ۶ متره پلن والی، ۱۵ ساتنې ضحامت او ۱۵ پلچکونه لري، چې د سیمه ییزو ادارو د ګډ ټیم له لورې سروې او ډیزاین شوی، چې ۲۰ میلیونه، ۳۶۸ زره او ۲۱۵ افغانیو په مالي لګښت سره به په څلورو میاشتو کې بشپړ شي.

ددې پروژې په بشپړېدو سره به د سیمې د خلکو د مواصلي لارې ستونزې حل شي.



## د جوزجان والي د ملګرو ملتونو د بشري مرستو د همغږۍ دفتر له رئیس سره وکتل

د جوزجان والي د بېځایه شویو او راستنېدونکو له پاره د ملګرو ملتونو د بشري مرستو د همغږۍ د دفتر له مشر څخه د لازیاتو مرستو غوښتنه وکړه.

په هغه غونډه کې چې د وږي په ۲۷ مه د جوزجان د والي قاري ګل حیدر شفق او د ملګرو ملتونو د بشري مرستو د همغږۍ د دفتر مشر اغلي رتناتتو تر منځ په ولایت مقام کې ترسره شوه، د یاد دفتر رئیس د مرستندویه پروژو د تطبیق په برخه کې د ولایت مقام او د کډوالو چارو ریاست له همکارۍ او د بشپړ امنیت د ټینګښت له امله مننه وکړه.

ښاغلي رتناتتو وویل: جوزجان ولایت ته یې د سفر موخه د بشري مرستو همغږي کول، د پلي شویو پروژو څارنه او د زیانمنو، بې ځایه شویو او راستنېدونکو کورنیو د ژمنیو اړتیاوو ارزونه ده.

د جوزجان والي له هغه وغوښتل چې د ژمي په رارسېدو او دغه ولایت ته د بېځایه شویو او راستنېدونکو ستونزو ته په پام سره د دوی د مرستو کمیت او کیفیت زیات کړي او یادو کورنیو ته د بنسټیزو پروژو د تطبیق په برخه کې لکه د څښاک

د صحي اوبو د برابرولو، د صحي او ښوونیزو مرکزونو تجهیزاتو او جوړولو په برخه کې پاملرنه وشي.



## پکتیا کې ۶۴۰ کورنیو سره مرستې شوې

د ملګرو ملتونو د کډوالو اداري په مالي مرسته د پکتیا ولایت د مهاجرینو چارو ریاست له لارې ۶۴۰ کورنیو سره مرستې شوې.

دغه کورنۍ، چې مخکې د زرمت او سید کرم ولسوالیو او د دغه ولایت مرکزته راکډه شوې وې او اوسمهال خپلو اصلي سیمو ته تللي له ډلې یې هرې کورنۍ ته د اړتیاوو په نظر کې نیولو سره ۶۱ زره او ۸۰۰ او ۴۷ زره او ۷۰۰ افغانۍ وېشل شوي دي.



## تخار کې ۲۸۴ کورنیو سره مرستې شوې

د مهاجرت نړیوال سازمان او د ملګرو ملتونو دکډوالو اداري په مالي مرسته د دغه ولایت د مهاجرینو چارو ریاست له لارې ۲۸۴ کورنیو سره مرستې شوې.

په یادو کورنیو کې راستنېدونکې، بېځایه شوې او هغه کورنۍ شاملې دي چې کورونه یې د تېرو جګړو له امله په خواجه غار، دشت قلعه، فرخار او خواجه بهاوالدین ولسوالیو کې ویجاړ شوي وو او د مهاجرینو چارو ریاست له لورې سروې شوې و، چې وروسته له سروې هرې کورنۍ ته ۴۷ زره او ۷۰۰، ۲۱ زره او ۴۰۰، ۲۴، زره او ۴۰۰، ۲۷ زره او ۵۰۰ او ۲۲ زره او ۶۰۰ افغانۍ وېشل شوي دي.





## تخار کې د دایمي بیا یوځای کېدو دویمه ناسته ترسره شوه

د تخار ولایت د مرستیال والي په مشرۍ په دغه ولایت کې د وړې په ۲۷مه د دایمي بیا یوځای کېدو دویمه ناسته د مهاجرینو چارو ریاست د ناستو په تالار کې ترسره شوه.

د یادې ناستې موخه په معلوماتي سیستم کې د راستنېدونکو د ثبت شوو شمېرو شریکول او د مرستو له پاره د همکارو بنسټونو د پام اړول وو، چې د ملي او نړیوالو همکارو ادارو د استازو په شتون کې ترسره شوه.

د تخار ولایت د مهاجرینو چارو رئیس حافظ شیر احمد انوري وویل، په دې وروستیو کې دغه ولایت ته د سرحدي پولونه د اوښتونکو کورنیو شمېر زیات شوی، خو د مرستندویه بنسټونو مرستې او همکاري کمه شوې، ځکه ثبت شوې شمېرې ښیي، چې په دې ولایت کې په ۱۴۰۲ کال کې ۷۲۲ کورنۍ ډیپورټ شوي، ۲۱۰۰ راستنېدونکي په انفرادي توګه ډیپورټ شوي، د بېوزلو کورنیو ۳۵۰۰ او د بېځایه شوو ۸۲۲ عریضې د دغه ولایت دمهاجرینو چارو ریاست په ډیټابیس کې ثبت شوي، چې تر اوسه ورسره ددې اداري د هلو ځلو سربېره د هیڅ یو بنسټ یا دفتر له لورې مرستې نه دي شوي او د مهاجرینو چارو ریاست د یوې دولتي اداري په حیث د دوی په خواکې دی ترڅو د مرستندویه ادارو مرستې دوی ته جلب کړي.

وروسته د ولایت مقام استازي هم د ناستې ګډونوالو ته په ځانګړي توګه د همکارو ادارو استازو ته د خپلو فعالیتونو په برخه کې د ولایت مقام د رهبرۍ د هر اړخیزې همکارۍ ډاډ ورکړویې ویل، ولایت مقام له هغو مرستندویه بنسټونو څخه چې په بېلابېلو برخو کې د قانون په رڼا کې فعالیت کوي له هیڅ ډول همکاریو څخه دریغ نه کوي.

د (WAW) دفتر استازي د دغه ولایت په مرکز او ولسوالیو کې د خپلو فعالیتونو په اړه معلومات ورکړل ویې ویل، د تخار ولایت په مرکز او یو شمېر ولسوالیو کې کور په کور سروې دوام لري او په پام کې ده، چې د ښباک د اوبو ۱۳ څاه ګانو د کنیدو کار په مرکز، خواجه غار او دشت قلعه ولسوالیو کې شروع کړي.

په دې ناسته کې د مهاجرت نړیوال سازمان استازي هم خبرې وکړې او په ژمي کې د سروې د پیل په اړه یې خبر ورکړ.
همدارنګه د ژوند له پاره د سرپناه (SFL) دفتر استازي هم د خپل دفتر د مرستو د کمښت یادونه وکړه ویې ویل، چې د مرستو د کمښت لامل یې د ملګرو ملتونو په کچه د مرستو کموالی وباله.



## بغلان کې د یو ښوونځي د جوړېدو لومړنۍ سروې ترسره شوه

د بغلان ولایت د مهاجرینو چارو ریاست د راپور له مخې د بغلان په مرکزي ولسوالۍ کې د یو ښوونځي د جوړېدو د کار لومړنۍ سروې د چنګاښ په ۲۱مه ترسره شوه.
د یاد ښوونځي د ودانۍ د جوړېدو لپاره د مرکزي بغلان ولسوالۍ د ګجرآباد سیمې د اوسېدونکي د مولوي عبدالمنان له لورې د چهارشنبې په غونډۍ کې یونیم جریب ځمکه وقف شوې او د ملګرو ملتونو د کډوالو ادارې په مرسته جوړیږي.
د یاد ښوونځي د جوړېدو لومړنۍ سروې د پوهنې ریاست د انجینرۍ ټیم له خوا د بغلان ولایت د مهاجرینو چارو ریاست په همغږۍ ترسره شوه.
د سرچینې په خبره د یادې ودانۍ د جوړېدو چارې به وروسته پیل شي.

د ویلوده، چې دغه ښوونځی له کلي څخه د مرکزي بغلان ولسوالۍ پورې ۳۵ کیلو متره فاصله لري، چې پکې ۷۵۰ کورنۍ او ۷۸۵۰ تنه ژوند کوي.



## بغلان کې د بېځایه شوو د روغتیا او حقوقو په اړه د عامه پوهاوي برنامه ترسره شوه

د افغان پراختیایي موسسې له لورې د بغلان ولایت د مهاجرینو چارو ریاست په همکارۍ په دغه ولایت کې بېځایه شوو ته د انساني حقوقو په اړه د عامه پوهاوي برنامه د وږي په ۲۰مه ترسره شوه.
یاده برنامه د مرکزي بغلان ولسوالۍ د سولې د مهاجرینو ښارګوټي او پلخمري ښار اتحاد د مهاجرینو ښارګوټي کې ترسره شوه، چې پکې یو شمېر علماوو، مخورو او بېځایه شوو شتون درلود.

د برنامې په جریان کې د انساني حقونو، د ښځو پرحل، د مهاجرینو د حقوقو، راستنېدنکو او د اخلي بېځایه شوو او د بیا مېشتېدو په اړه ګډونوالو ته معلومات وړاندې شول.



## بادغیس کې څلور زره ۷۹۱ کورنیو سره مرستې شوي

د بادغیس ولایت د مهاجرینو چارو ریاست له لارې د خوراک نړیوال سازمان، د ملګرو ملتونو د کډوالو ادارې، هیت ناروې او د ښځو له پاره د ښځو مؤسسې په مالي مرسته په دغه ولایت کې څلور زره او ۷۹۱ کورنیو سره د خوراکي توکو، نغدي پیسو، خپلو اصلي سیمو ته د لېږد او د لمریزې برېښنا د وسایلو مرستې شوي.

یادې کورنۍ، چې مخکې د ولایت په مرکز کې په کمپ کې اوسېدې خپلو اصلي سیمو د مقر، قادس، آبکمري، جوند، دره بوم، سنګ اتش، تګاب عالم، بالامرغاب او مرکز قلعه نوښار ته ستنې شوې وې وروسته له سروې هرې کورنۍ ته څلور قلمه خوراکي توکي او د اړتیاوو په نظر کې نیولو سره په بېلابېلو کټګوریو کې ۶۱ زره او ۸۰۰، ۴۷ زره او ۷۰۰، ۲۴ زره او ۲۲ زره او ۶۰۰ افغانۍ، دوه د لمریزې برېښنا ۳۰۰ واټه تختې او دوه ۱۰۰ امپیره بطرۍ وېشل شوي دي.



د یوبل خبر له مخې په دغه ولایت کې ۱۵۰ بېځایه شوو او مستحقو کورنیو ته د ملګرو ملتونو د کډوالو ادارې په مالي مرسته د مرکز قلعه نو ښار شاوخوا سیمو د سرپناه د جوړېدو کار شروع شو.

د سرچینې په خبره د هرې کورنۍ له پاره سرپناه شلتړې دوه خونې، یو دهلیز او یو تشناب لري، چې په پاخه او ساسي ډول جوړیږي.



## بادغیس کې د بېځایه شوو وضعیت ته د لاسرسي په موخه ناسته ترسره شوه

په بادغیس ولایت کې د زرګونو کورنیو وضعیت ته د لاسرسي او خپلو اصلي سیمو ته د لېږد په موخه د مهاجرینو چارو وزارت د مرستو د همغږۍ رئیس شیخ عبدالرحمن رحماني په مشرۍ او د بادغیس ولایت د چارواکو او همکارو مؤسسو په ګډون د وږي په ۱۹مه د ولایت په مرکز کې ناسته ترسره شوه.

په دې ناسته کې لومړی د بادغیس ولایت والي مولوي عبدالصمد جاوید د هغو ۳ زره داخلي بېځایه شوو او اړمنو کورنیو ستونزو او اړتیاوو په اړه خبرې وکړې چې له ۸ کمپونو څخه بېرته خپلو اصلي سیمو یا مېنو ته راستنې شوې دي.

وروسته د مهاجرینو چارو وزارت د مرستو د همغږۍ رئیس او د وزارت د پلاوي مشر شیخ عبدالرحمن رحماني د موضوع اړوند خبرې وکړې او ویې ویل، یادې کورنۍ مرستو ته اړتیا لري او باید د ژمي له را رسېدو او هوا د سړېدو مخکې ورسره د بشري مرستو، سرپناه د جوړېدو او د څښاک د اوبو د برابرولو په برخه کې د مؤسسو په همکارۍ مرستې ترسره شوي.

هغه زیاته کړه ،چې سروې او د مرستو وېش باید د مهاجرینو چارو وزارت سره په همغږۍ ترسره شي او موسسې د مهاجرینو چارو وزارت سره د لاسلیک شوو هوکړه لیکونو مطابق د فعالیتونو اجازه لري او هغه مؤسسې چې تر اوسه یې هوکړه لیکونه نه دي لاسلیک کړي په ورته وخت کې چې د مرستو د وېش پلان او برنامې لري باید په خپل وخت کې هوکړه لیک لاسلیک کړي.

په ناسته کې د همکارو بنسټونو استازو هم خبرې وکړې او ژمنه يې وکړه ،چې د مهاجرينو ستونزې او اړتياوې به له مرکزي دفترونو سره شريکوي او پايلې به يې د مهاجرينو چارو رياستونو او يو شمېر نورو همکارو بنسټونو سره شريکوي.

د بادغيس ولايت د مهاجرينو چارو د آمر په خبره ياد بېځايه شوي مخکې د بادغيس ولايت مرکز اړوند قعله نو ښار په ۸ کمپونو کې اوسېدل او د وضعيت په ښه کېدو سره بېرته خپلو اصلي سيمو او آب کمري، قادس، مقر، سنگ آتش، بالامرغاب او غورماچ ولسواليو ته ستانه شول.



## غزني کې ۴۹۵ کورنيو سره نغدي مرستې شوې

د غزني ولايت د مهاجرينو چارو رياست له لارې د وطن تخنيکي او پراختيايي خدماتو، د انساني مرستو د همغږۍ او ملگرو ملتونو د کډوالو ادارې په مالي مرسته ۴۹۵ کورنيو سره نغدي مرستې شوې.

يادو بېځايه شوو کورنيو هرې کورنۍ ته، چې خپلو اصلي سيمو اندړ او چغتو ولسوالو ته راستنې شوې وې په بلابېلو کټگوريو کې ۶۱ زره او ۸۰۰، ۲۲ زره او ۶۰۰، ۲۴ زره او ۹۰۰، ۲۳ زره او ۵۰۰، ۱۷ زره او ۵۰۰، ۱۴ زره او ۵۰۰، ۲۲ زره او ۱۶ زره افغانۍ وېشل شوې دي.

د يوبل خبر له مخې د غزني ولايت د مهاجرينو چارو رياست په دغه ولايت کې د پېژند پاڼې او يو شمېر مهمو اسنادو د عامه پوهاوي د برنامې د ترسره کېدو خبر ورکړ.

دغه برنامه د ډنمارک د مهاجرينو ټولنې په همکارۍ ۶۰ تنو بېځايه شوو، راستنېدونکو او د سيمي اوسېدونکو ته د دغه ولايت په قره باغ ولسوالۍ کې ترسره شوه.

په ياده برنامه کې، د مهاجرينو چارو رياست د استازي له لوري گډونوالو ته د پېژند پاڼې د ترلاسه کولو او يو شمېر مهمو اسنادو په اړه عامه پوهاوی ورکړل شو.




## ميدان وردگو کې لسگونه سېلاب ځپلو کورنيو سره مرستې شوې

ميدان وردگو ولايت کې ۷۶ سېلاب ځپلو کورنيو سره د يو شمېر نړيوالو مرستندويه بنسټونو په مالي مرسته د زمري په ۲مه مرستې شوې.

يادې کورنۍ، چې په جلريز ولسوالۍ کې زيانمنې شوې وې، چې د ميدان وردگو ولايت د مهاجرينو چارو آمريت او همکارو مؤسسو د گډو ټيمونو له لورې سروې شوې وې هرې کورنۍ ته د مهاجرت نړيوال سازمان، خوراک نړيوال سازمان، د نړۍ زراعت، د ملگرو ملتونو د ماشونو د ملاتړ نړيوال صندوق او د ملگرو ملتونو د کډوالو ادارې مرستې وېشل شوي دي.

يادو کورنيو هرې کورنۍ ته د اړتياوو په نظر کې نيولو سره ۱۶ زره او ۲۰ زره افغانۍ، يوه يوه خېمه، ۳ کمپلې، کورنۍ کڅوړې، ۲ د لمريزې برېښنا تختې، د سرپنا کڅوړې چې پکې ۱۴ قلمه مواد شامل دي، روغتيايي کڅوړې، ۲۰۰ کيلو اوړه، ۱۸ کيلو غوړي، ۲ کيلو مالگه او د ماشومانو له پاره معذي مواد وېشل شوي دي.



## نورستان کې ۱۲۱ کــــورنيو سره مرستې شوې

د نورستان ولايت د مهاجرينو چارو آمريت له لارې د ملګرو ملتونو د کډوالو ادارې په مالي مرسته په دغه ولايت کې ۱۲۱ کورنيو سره مرستې شوې.

دغه کورنۍ، چې مهاجرينو چارو آمريت له لورې په برګمتال، کامدېش، وايګل، دوآب، منډول او نورګرام ولسواليو کې سروې او د مرستو له پاره مستحقې په ګوته شوې وې له ډلې يې ۱۰۹ کورنيو هرې کورنۍ ته ۴۷ زره او ۷۰۰ او ۱۲ کورنيو هرې کورنۍ ته ۶۱ زره افغانۍ وېشل شوې دي.



## پــــروان کې ۱۰۱ کورنيو سره مرستې شــــوې

د پروان ولايت د مهاجرينو چارو رياست له لارې د وطن تولنيزې او تخنيکي او د انساني مرستو د همغږۍ مؤسسې په مالي مرسته په دغه ولايت کې ۱۰۱ کورنيو سره مرستې شوې.

يادې کورنۍ چې مخکې کابل ولايت ته راکډه شوې وې او اوسمهال د پروان ولايت بېلابېلو ولسواليو او خپلو اصلي سيموته تللې وې، چې د مهاجرينو چارو رياست له لورې سروې او د مرستو له پاره مستحقې په ګوته شوې وې، چې هرې کورنۍ ته په بېلابېلو کټګوريو کې ۷۹ زره او ۴۵۰، ۲۷ زره او ۵۰۰ او ۲۲ زره او ۶۰۰ افغانۍ وېشل شوې وې.



د يوبل خبر له مخې د پروان ولايت د مهاجرينو چارو رياست له لارې د چاريکار ښار د دولسمې پارچې کانال د پاکولو کار د ډنمارک د مهاجرينو ټولنې په همکارۍ د زمري په لومړۍ نېټه پيل شو.

د يادې پروژې کاريګران اکثره راستنېدونکي او بېځايه شوي دي، چې مخکې د مهاجرينو چارو رياست او ډنمارک د مهاجرينو ټولنې د ګډ ټيم له لورې سروې او هره ورځ ورته د کار په مقابل کې ۴۰۰ افغانۍ ورکول کېږي.

د پروژې پرانيسته د پروان ولايت د مرستيال والي، د اقتصاد او حوزه يي د ريايي د رئيس، د ډنمارک د مهاجرينو ټولنې د استازو او د سيمې د مشرانو او سپين ږيرو په شتون کې وشوه.



## اته زره او ۵۴۶ کورنيو سره په خوست کې د خوراکي توکو او نغدي پيسو مرستې شوې

د خوست ولايت د مهاجرينو چارو رياست له لارې د ملګرو ملتونو د کډوالو ادارې، د انساني مرستو د همغږيو مؤسسې، خوراک نړيوال سازمان او د افغانستان د بشري مرستو خيريه صندوق په مالي مرسته په دغه ولايت کې اته زره او ۵۴۶ کورنيو سره د خوراکي توکو او نغدي پيسو مرستې شوې دي.

يادې کورنۍ، چې مخکې د خوست ولايت د مهاجرينو چارو رياست له لورې تڼيو، ګربز، ګلاب کمپ او دوه منده ولسواليو کې سروې او د مرستو له پاره مستحقې په ګوته شوې وې هرې کورنۍ ته د اړتياوو په نظر کې نيولو سره ۶۱ زره او ۸۰۰، ۲۲ زره او ۶۰۰ او څلور قلمه خوراکي توکي وېشل شوي دي.



## بدخشان کې دوه زره او ۱۶ کورنیو سره مرستې شوې

د بدخشان ولایت د مهاجرینو چارو ریاست له لارې د ملګرو ملتونو د کډوالو ادارې او د افغانستان له پاره د هالنډ کمېټې په مالي مرسته په دغه ولایت کې دوه زره او ۱۶ کورنیو سره مرستې شوې.

دغه کورنۍ، چې مخکې د مهاجرینو چارو ریاست له لورې په خاش، وردج، بهارک، یفتل، جرم او داریم ولسوالیو او د بدخشان په مرکز کې سروې او د مرستو له پاره مستحقې په نښه شوې وې په بېلابېلو کټګوریو کې ۴۷ زره او ۷۰۰، ۴۸ زره او ۵۵۰، ۶۱، زره او ۸۰۰، ۲۲ زره او ۶۰۰، ۲۹ زره او ۱۵۰، ۵۲ زره او ۱۰۰، ۲۲ زره او ۶۰۰، ۱۲ زره او ۳۲۰ او ۱۱ زره او ۳۳۰ افغانۍ وېشل شوې دي.



## لغمان کې ۱۷۷ کورنیو ته دایمي سرپناوې جوړې شوې

د لغمان ولایت د مهاجرینو چارو ریاست په دغه ولایت کې د زمري په ۱۹مه ۱۷۷ کورنیو ته د ملګرو متلونو د کډوالو ادارې په مالي مرسته د ۶۰ میلیونه افغانیو په ارزښت د دایمي سرپناه د جوړېدو خبر ورکړ.

په هغه مراسمو کې، چې په همدې موخه د الیشنګ ولسوالۍ کې ترسره شوي وو، د دغه ولایت د مهاجرینو چارو رئیس وویل، د لاسلیک شوي هوکړه لیک د پلان مطابق په پام کې ده، چې ۳۲۵ مستحقو کورنیو ته په دایمي توګه سرپناه جوړه شي، چې اوسمهال ۱۷۷ کورنیو ته سرپناوې جوړې شوي دي.



د هغه په خبره یادې سرپناه وې به د ۶۰ میلیونه، ۵۷۸ زره او ۶۰۴ افغانیو په ارزښت د څلورو میاشتو په موده بشپړې شي او په دې پروژه کې ۸۸۵ تنو ته د کار زمینه برابره شوې ده.

په یادو مراسمو کې د ملګرو ملتونو د کډوالو ادارې د ختیځ زون مسؤل هم خبرې وکړې او د یاد پلان د پلي کېدو ډاډ یې ورکړ.

د یادو سرپناوو د بنسټ ډبرې مراسمو د دغه ولایت د مرکزاړوند د الیشنګ په سیمه کې د ملګرو ملتونو د کډوالو ادارې او د ختیځ زون د سیمه ییزو ادارو د استازو په شتون کې ترسره شول.

د یوبل خبر له مخې ۶۳۷ نورو کورنیو ته په بېلابېلو کټګوریو کې ۱۰ زره، ۱۲ زره، ۴۷ زره او ۷۰۰، ۲۷ زره او ۵۰۰، ۲۲ زره او ۵۰۰، ۲ زره او ۶۵۰، او ۱۰ زره او ۱۸ زره افغانۍ وېشل شوي دي.



سرچیني زیاتوي، چې د لغمان ولایت په مرکز کې یو پلچک د پنځه سوه زرو او ۵۰۰ افغانۍ په مالي لګښت د ګلبیلي کلي د اوسېدونکو د ستونزو د حل او د دغه ولایت په شمتیو سیمه کې ۱۵ متره استنادي دیوال جوړول د مهاجرت نړیوال سازمان په مالي لګښت شروع شول.

د دیوال په جوړېدو سره، چې د ۱۵ متره په اوږدوالي او د ۴ مترو په پلنوالي جوړېږي د خلکو کرنیزې ځمکې په د سېلابونو له خطر څخه په امان کې شي.



## فاریاب کې له زرو زیاتو کورنیو سره مرستې شوې

د فاریاب ولایت د مهاجرینو چارو ریاست په همکارۍ او د ورلډ ویژن مؤسسې په مالي مرسته په دغه ولایت کې یو زرو او ۲ کورنیو سره مرستې شوي دي.

په یادو کورنیو کې راستنېدونکې، اړمنې، بېځایه شوو او معلولې کورنۍ شاملې وې، چې د فاریاب ولایت د مهاجرینو چارو له لورې د مرستو له پاره مستحقې په نښه شوې وې چې هرې کورنۍ ته یوه یوه روغتیایي کڅوړه وویشل شوې ده.



د یوبل خبر له مخې د فاریاب ولایت د مهاجرینو چارو رئیس الحاج ملا سیف الدین جهادي د ملګرو ملتونو د کډوالو ادارې د شمالي زون له رئیسې میرمن لاچین حسن وه سره د زمري په ۲۳مه په خپل کاري دفتر کې لیدنه وکړه.

په دې لیدنه کې میرمن لاچین حسن وه په دغه ولایت کې د معیوبینو، معلولینو، نا علاجه مریضانو ته د سرپناه، روغتیایي مرکز د جوړېدو، د کارموندنې، د نغدي مرستو او درملنې په برخه کې د پروژو د پلي کولو ژمنه وکړه.

د مهاجرینو چارو رئیس د یادې ادارې له پرلپسې مرستو او همکاریو څخه د مننې ترڅنګ له هغې څخه وغوښتل، چې د نورو اړتیا ترڅنګ د دغه ولایت د مهاجرینو په دوو ښارګوټو کې د شلترو، کار موندنې، د داخلي بېځایه شو خپلو اصلي سیمو ته د لېږد، راستنېدونکو سره د مرستو، د څښاک د اوبو د ستونزو د حل، د سرک جوړولو، روغتیایي مرکز او ښوونځي جوړولو په برخه کې همکاري وکړي.

میرمن لاچین حسن وه وویل، شته ستونزې او اړتیاوې به له مرکزي دفتر سره شریکوي او د حل په موخه به یې د امکان تر حده هڅې کوي.



## هلمند کې ۳۵۸ کورنیو سره مرستې شوې

د هلمند ولایت د مهاجرینو چارو ریاست له لارې د ملګرو ملتونو د کډوالو ادارې په مالي مرسته په دغه ولایت کې ۳۵۸ کورنیو سره مرستې شوې.

یادې کورنۍ چې مخکې د مهاجرینو چارو ریاست له لورې په موسی قلعه، نوزاد، نادعلي، واشېر، ګرمسیرولسوالیو او د هلمند ولایت په مرکز کې سروې شوې وې هرې کورنۍ ته ۴۷ زره او ۳۰۰ افغانۍ وېشل شوې دي.



## غور کې یوزرو او ۹۹ کورنیو سره نغدي مرستې وشوې

د کوردايد او انکشاف رازی مؤسسې په مالي مرسته د غور ولایت د مهاجرینو چارو آمریت له لارې په دغه ولایت کې یوزرو او ۹۹ کورنیو سره د نغدي پیسو او د میوو د پروسس د وسایلو مرستې شوې.

یادې کورنیو هرې کورنۍ ته، چې د دغه ولایت په دولینې ولسوالۍ او غور مرکز کې اوسېدې او د مهاجرینو چارو آمریت له لورې سروې او د مرستو له پاره مستحقې په ښه شوې وې ۱۶ زره افغانۍ او ۷۵ میرمنو ته چې د انکشافی رازی مؤسسې په مالي مرسته ورته حرفوي زده کړې ورکړل شوې وې هرې یوې ته یې ۱۶ قلمه کاري وسایل وېشل شوي دي.



## د کاپیسا ولایت د ناګمان د مهاجرینو ښارګوټي د تفصیلي پلان د جوړولو کار شروع شو

د مهاجرینو چارو وزارت د ښارګوټو د انجینرانو له لورې د کاپیسا ولایت د ناګمان د مهاجرینو ښارګوټي د تفصیلي پلان د جوړولو کار د وږي په ۲۰مه شروع شو.

د کاپیسا ولایت د مهاجرینو چارو آمر د معلوماتو له مخې یاد ښارګوټی په یوزرو او ۵۰۰ جریبه ځمکه کې، چې د اوبو له سطحې لوړه ده له مرکز څخه په ۵ کیلو متره فاصله کې د ناګمان په دښتې کې موقعیت لري.

د سرچینې په خبره یاد ښارګوټی د جمهوري ریـــاست د ۱۵/ ۹/ ۱۳۸۴ کال مه د ۱۰۴ ګڼې فرمان له مخې د دغه ملکیت په ۱۳۸۶ کال کې د کرنې او مالدارۍ وزارت له ملکیت څخه د مهاجرینو چارو وزارت ته د یوې ودانۍ د جوړېدو په موخه لېږل شوې دی، مګرد نا امنیو، اداري فساد او د غاصیبونو د شتون له امله په یاده سیمه کې هېڅ کار نه دی شوی او په دې وروستیو کې د مهاجرینو چارو وزارت او د ښار جوړونې وزارت د کړنو په پایله کې د دغه وزارت انجینرانو د کاپیسا ولایت د ښار جوړونې وزارت له لارې سیمې ته لېږل شوي او د ښارګوټي د تفصیلي پلان د جوړولو کار یې شروع کړی.





د مهاجرينو چارو سرپرست وزير الحاج خليل الرحمن حقاني د
ملګرو ملتونو د کډوالو اداري د رئيس سره د ليدنې پرمهال



د مهاجرينو چارو سرپرست وزير الحاج خليل الرحمن حقاني د
پکتيا ولايت د مهاجرينو چارو رياست د کارونو د ارزونې پرمهال



د مهاجرينو چارو وزارت مالي او اداري مرستيال الحاج محمد
ارسلاح خروټي د ترکيې سفير سره د ليدنې پرمهال



د مهاجرينو چارو سرپرست وزير الحاج خليل الرحمن حقاني د
ملګرو ملتونو د کډوالو اداري د سرمنشي له ځانګړي استازي له
مرستيال سره د ليدنې پرمهال



د ولايتونو رئيسانو، آمرينو او عمومي مديرانو ته د مالي او
حسابي مسايلو د ورکشاپ د جريان انځور.



مرکزي رئيسانو، آمرينو او مديرانو ته د مالي او حسابي مسايلو
د ورکشاپ د جريان انځور.



د دغه وزارت رئیسان او آمرین د حکومت د رسنیو په مرکزکې ملت ته د دولت د حساب ورکولو برنامې پرمهال



مسلکي مرستیال د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو په کمېسیون کې د وزارت د کمبود بستونو د برېښنا یي ازموینې د پیل پرمهال



د یونان په اوبو کې د مهاجرینو کښتۍ غورځېدلې



راستنېدونکو او بېځایه شوو ته د لمریزې برېښنا د تختو د وېش لړۍ



راستنېدونکو او بېځایه شوو ته د مرستو دوېش لړۍ



په سمندر کې د مهاجرینو کښتۍ ډوبه شوه

## افغـــان لوبغاړي فريد بشارت خپل برازيلي سيال ته په ماتې ورکولو سره UFC ته لاره پيدا کـــــــړه

افغان فري ستايل لوبغاړي فريد بشارت خپل برازيلي سيال ته ماتې ورکړه او د فري ستايل د مبارزې نړيوال سازمان UFC ته يې لاره پيدا کړه.

فريد بشارت او د برازيل د آلان بيګوس ترمنځ لوبه د چهارشنبې په ورځ د وږي په ۲۳مه ترسره شوه او بشارت وتوانېده، چې خپل برازيلي سيال ته د امتيازونو په توپير ماتې ورکړي.

فريد بشارت د افغانستان څلورم لوبغاړی دی، چې د يو اف سي قرارداد لاسته راوړي.

دغه افغان لوبغاړی چې اوسمهال په انګلستان کې ژوند کوي ۸ مسلکي سيالۍ يې کړي او ټولې يې ګټلې دي.



## علي بــــلال «فلکس پرو» سياليو اتل شــــــو

علي بلال «فليسک پرو» سياليو کې د اتلولۍ په ګټلو سره يو ځل بيا د مستر المپيا سياليو ته لار پيدا کړه.

افغان فتنس ورزشکار علي بلال د «فليکس پرو» په سياليو کې د سرو زرو مډال او د اتلولۍ په ګټلو بريالی شو.

دا سيالي د سپتمبر په ۱۰مه د ايټاليا د ميلان په کوربتوب ترسره شوه او په لندن کې يو افغان کډوال علي بلال په دې وتوانېده، چې د فتنس په برخه کې د نړۍ د غوره لوبغاړو په منځ کې د نارينه فزيک په کټګورۍ کې د سرو زرو مډال وګټي او د مستر المپيا سياليو ته لاره پيدا کړي.

د ۲۰۲۳ کال له پاره د مستر المپياد سيالۍ، چې په نړۍ کې د بدن جوړونې او فتنس تر ټولو سترې سيالۍ دي، ټاکل شوې، چې د ۲۰۲۳ کال د نومبر له ۲ تر۵ پورې د امريکا د فلوريډا ايالت اورلانډو کې ترسره شي.

په ۲۰۲۲ کال کې علي بلال د آرنولډ کلاسيلک مشهوره نړيواله اتلولي هم وګټله او په مسلکي سياليو کې يې درې ځله د سرو زرو مډالونه ګټلي چې د "IFBB" يا د بدن جوړونې نړيوال فدراسيون له لورې ترسره شوې وې.

د تېر کال د مستر المپيا سياليو کې، د نړۍ د ۱۵ غوره لوبغاړو په منځ کې، هغه وتوانېد چې د نارينه فزيک په کټګورۍ کې نهم ځای ترلاسه کړي.



## افغـــــان لوبغاړي خپل امريکايي سيال مات کړ

افغان مهاجر لوبغاړی نصرت حق پرست خپل امريکايي سيال ته د (UFC) سياليو په لړ کې ماتې ورکړه.

حق پرست وتوانېد چې په درې روندونو کې خپل سيال د امتياز له توپير سره مات کړي.

حق پرست خپله بريا د مراکش د خونړۍ زلزلې قربانيانو او د افغانستان خلکو ته ډالۍ کړه.


د مراکش په خونړۍ زلزلې کې د ۲۰۱۲ تنه مړه کېدل او له ۲۰۰۰ تنو زياتو زخمي کېدل تائيد شوي وو.


حق پرست د استراليا په سډني ښار کې د لندن کوينونز پروړاندې له درې ګولونو وروسته د سيالۍ ګټونکی اعلان شو او ويې ويل، چې مراکش زما د دويم کور په څېر دی او د يو کډوال په توګه يې زما هر کلی کړی دی کله مې، چې د زلزلې خبر واورېده ټکان مې وخوړ او زه خپله مبارزه د مراکش ټولو قربانيانو ته او خپل اصلي ټاټوبي افغانستان ته، چې له څلوېښتو کلونو راهيسې ځپل شوی دی ډالۍ کووم.

نصرت حق پرست په خپل رسمي ريکارډ کې ۱۵مه بريا ثبت کړه، چې په داسې حال کې چې تر اوسه يې يوازې پنځه لوبې بايللي دي.

په تېرو وختونو کې به دغه ورزش کار په تعرضي توګه سيالي کوله، مګر په وروستيو سياليو کې يې بدلون راوستی او اوس د بريد او ځوابيه بريد طريقه کاروي.

لندن کوينونز، چې د حق پرست له لورې يې ماتې خوړلې وه په خپل رسمي ريکارډ کې اوه بريا وې او دوه ماتې لري.





Mohajer Magazine
Consecutive number 19, Summer1402

**Islamic Emirate of Afghanistan**
**Ministry of Refugees and Repatrations**
**Information and Public Relation Department**



**The opening ceremony of the reconstruction of the internal Corridor in the ministry with the presence of the Acting Minister of refugee and repatriation, Professional Deputy and a group of central heads of the ministry.**

www.morr .gov.af
Morr.gov
Ministry of refugees and repartition
MoRR AFG